# د كتاب ځانګړنې:

د كتاب نوم: وفا

ليكوال: جابر مخلص

خپرندوى: ګودر خپرندويه ټولنه

ډيزاين: محمد داود (ټپان)

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوكه

د خپرېدو لړ:

چاپ كال: ۲۰۱۲ / ۱۳۹۱

چاپ چارې:
ګودر خپرندويه ټولنه

د كتاب د بيا چاپ ټول حقوق له خپرندويه ټولنې سره دي.

د وفا په اړه

دلنډو کیسو دجوړښت په هکله ډیرو لیکوالانو خبرې کړې او هڅوی ته یې یو لړ اصول او قوانین ټاکلي دي که پر دغه اصولو باندې خبرې وکړې شایدډیرو څت ونیسي .خو ددغو اصولو درې مهم ټکي یې دغه بللي دي. د کیسې پیل ،تلوسه او سوڅه
هر لیکوال ته لا زمه هم ده ،چې دکیسې دلیکلو وړاندې دغه اصول وپیژني او مراعات یې کړي ما،چې دجابر مخلص کیسې ولوستې تر ډیره یې اصول مراعات کړي دي .

دده کیسي ډیره برخه دخپل چاپیریال ،سیمې اوکلي په ستونځو ناخوالو او نورتهولنیزو برخو باندې څرخیږي ،کیسي پې له ځان سره خلکو ته یو پیغام لري .

خو هاغه دچا خبره ،چې هر ګل له ځان سره اغزي هم لري ،دده کیسې که له یوې خوا ښېګڼې لرې له بلې خوا په کمه اندازه ستونځې هم لرې ،چې دکیسې لیکلوپه برخه کې ستونځې یو معمول خبره ده او شاید له لوړو لیکوالو څخه هم یوه نیمه تیروتنه شوې وي .

دده په کیسو کې دژبې په برخه کې داستونځې شته ،چې دده په کیسو کې داسې ژبه کارول شوې ،چې کیدای شي

یوازې دده په کور اوکلي او حد اقل په خپله ولسوالۍ کې خلک پرې وپوهیږي .

په لیکنه کې باید داسې لغاتونه وکارول شي ،چې څه ناڅه دهرې سیمې خلک پرې وپوهیږي که چیرې څوک یولیکنه لولي او په کوم لغات پوه نشي نو هغه دهغې لیکنې څخه مطلب هم په سمه توګه نشي اخیستلی .

او بله دا،چې ده په کیسو کې دسیمې لغاتونو تر څنګ دخپلې سیمې اصلاحات هم کارولي ،چې داهم دیادې خبرې په شان لوستونکو ته ستونځې پیدا کوي .

او ددې ترڅنګ يې ځينې ځايونو کې هغه لغاتونه هم کارولي ،چې دپښتون ندي بلکې دکوزې پښتونخوا خلک يې په ورځينيو خبرو کې کاروي .
له(هسپتال)(زنانه)(اوپوشمير نور د دري لغاتونه هم پکې راغلي دي
که په لنډه يې ووايو دده دکيسو منفي او مثبت اړخونه سره پرتله کړوکيسي يې ښي دي اوشايد ،چې دده دالومړئ هڅه وي په راتلونکي کې ده ته په دغه لار کې برياليتوب غواړواو ددې ټولګې مبارکي ورته وايم.

په مينه او ادب
ساحل منګل / پکتيا – ګرديز

تقريظ

دا خبره ډيرو ادبپوهانو او ادب مينوالو له خولي اوريدل کيږي. چې په پښتوژبې کې نظم لمن نظر نثر ته پراخه ده، تر ډيره بريده دا خبره سمه ښکاري ښايي سبب يې داوې چې نظم نظر نثر ته نوی څيزدی دا خبره په دې بنياد کوم چې بشری تاريخ ددې خبرې ګواه دی چې

لومړی خلکو خبري زده کړي او وروسته چې کله خلکو دژوند په هري برخې کې پرمختګ وکړ نو ظاهره ده په ژبې کې چې د انسانیت جوهردی، هم پرمختګ راځي او د خلکو پام نظم ته ور اوړی.

په پښتو ژبې کې د نظم تاریخ له وړاندي دی، د دې خبري دا معنا نه وې چې کوندی په پښتوکې نثر موجودنه و، البته زموږ لاسته راعلی اثرنظم دی او د نثر کوم اثر لاسته نه راعلی.

خو زمو ږ موخه داده چې دا ځانګړتیا په موږ کې له پخوا موجوده ده د دې ښایې ډیر عوامل وې خو موږ له ټولو راتیریږو اوخپل اصلي مطلب ته راځو.

زموږ نوي لیکوال او نثر لیکونکې په دې پوه شوي چې بایدموږ نثر ته هم کار وکړو اود نثر تشه چې زموږ په ادب کې ښکاري ډکه کړو.

جابراحمدمخلص هم په همدې هیله خپلی متې رانغاړلي اوځرنګه چې مخلص دی په خلص په دې کار پسې راوتلی.

مخلص ډیر ښه استعداد لري او داستعداد تر څنګ له د ادب سره یې کچې مینه هم لري.

شاعر او لیکوال ټولنې انځور ټولنې ته وړاندي کوي او جابر په دې کار کې بریالی ښکاري د(ګل ځانګه)په نوم کومه لنډه کیسه چې جابراحمد کښلی د خپلی ټولنې یو داسې نه پټیدونکی حقیقت یې په ادبي ګانه سمبال وړاندي کړی، سر ترپایه له ترلو مفاهیمو جوړه شوې ده،چې دا ځانګړتیاو شمیرل کیږی.

او د دې ترڅنګ چې یوه بله کیسه چې شپونکې تر سر لیک لاندې دکلیوالی ژوند ښه انځورونکې ده.

نوموړی له تعلیم سره څپله مینه لري او دنورو رجحان هم دې خواته غواړي او په ښوونیز سستم کې د وهلو له دود څخه سر ټکوي.
ژبه یې خوږه او هنري ده، خوندوړ ترکیبونه، تشبیهات او د ګرامري ټکو مراعت یې د لیکنې له خواصو ګڼل کیږي.
د فکر په لحاظ ټل د ناکامې مینې حالات بیانوي د الفت صیب د وینا مطابق مینه هم دې ته وایې چې د بریالیتوب څرک په کې ونه لګیږي.
نور یې له تشریح راتیریږم او پریکړه لوستونکو ته پریږدم.
په پای کې ښاغلي مخلص ته د ټاند او ښه قلم په هیله.

درنښت!

استاد جاوید مجذوب

نیټه: ۲۰=۶=۱۳۹۰

## څپلې خبرې

د وفا په نوم د لنډو کیسو ټولګه په دې ډګر کې زما لومړی هڅه ده او کیدای شي، ډیر ستونزې هم په کې موجودې وې چې له وړاندې یې په اړه له درنو لوستونکو څخه بښنه غواړم.

که څه هم زما د کیسو په چاپ یو څه ځنډ ووت او په دې ونه توانېدم چې د کتاب له بشپړېدو ورسته د یارانو له غوښتنې سره سم په خپل وخت دا ټولګه له چاپه راووزې خو بیا ځینو ملګرو په دې برخه کې ډېر هڅولی یم او باید یادادوری یې وکړم.

د ګودر خپرندویه ټولنې یاران دې الله ج راته ژوندي او بریالي لري چې د کتاب چاپ ته یې اوږه ورکړه او عزت الله ځواب دې همداسې ګړندی او بریالی وي چې هر وخت مې هڅوي.

محمد داؤد ټپان چې ډېر وخت د یارانو لپاره نه ستړې کېدونکې هڅې کوي، همداسې دې هڅاند وي او زه مننه ترې کوم چې دا کتاب یې را ته ډیزاین کړ.

نعیم ځان طوری دې هم ژوندی وي چې وربانډې ګران او راباندې ګران دی.

ساحل منګل دې هم ژوندی وي چې د وخت په تنګسیا کې یې دا کتاب وکوت.

د اسمعیل لاروي په اړه به څه ووایم؟؟؟ چې د کتاب په سمون کې یې د مرستې ژمنه کړې وه خو تړلی کال یې وځنډولم او ورسته به یې ټیلفون هم نه پسې اخیست خو بیا یې هم په ځینو ملګرو دا بار ورواچاوو.

په درنښت

جابر مخلص

سعودي عربستان

# سوغات

نن عامر ډېر زيات خوشاله ؤ، چې په چوکۍ کې به کېنا ستو نو زړه به يې د خوشالۍ نه په ټوپونو شو ځکه چې په لومړي ځل يې د وظيفې آرمان پوره شوی ؤ، نوی نوی فارغ شوی ؤ، که څه هم چې هره شپه به يې د لوړو زده کړو خوبونه ليدل خودا يې هم خوشبختي ګڼله ، چې په يوه خيريه مؤسسه کې په کار ګمارل شوی ؤ، ځکه چې د اقتصاد وضعيت يې ډېر کمزوری ؤ ،او د مور پلار يې هم هغه اميدونه چې د کومو اميدونو دپاره يې په ده زده کړې کولې پوره شوي وو، د مور پلار يې د خدای نه لاندې يوا زېنی همدا د ګټې څټې اثره وه، پلار يې نور د ګټې نه لويدلی ؤ، د مور سينه بندی هم ډېر فکر مند کړی و ، چې سحر به د فتر ته لاړو تر ما ذيګره به يې غوږونه بوږنېدل او په زړه کې به يې د هغې لپاره کرل رېبل.

درې څلور ورځې يې په وظيفه کې وتلې وې ، د پنجشنبې سحر ؤ، عامر پخپل د فتر کې په کار بوخت ؤ، چې دروازه غلې غوندې خلاصه شوه ، (زه راتلای شم؟) جمله يې په داسې انداز کې واورېده چې تر

دې وړاندې عامر داسې جاد وګر آواز نه ؤ اوريدلی، بدن يې په رېږيدو شو، د دې پر ځای چې هغې ته د ننه د راتلو اجازت ورکړي ،د خپلې چوکۍ نه پاڅيدو.

نجلی هم پې له دې چې د عامر اجازت ته منتظره شي ، د عامر د میز پورې غاړې ته مخامخ ود رېده او عامر له د بت پخپل ځای ولاړ پاتې شو، د هغې سرې ګلابې شونډې،توري غټې غټې سترګې ،چې په یو نظر د سړي زړه له ګو ګله بوت وباسي ،سرې زلفې چې د انګو په چاګیر پې قبضه کړېوه، سره سره انګې لکه د کندهار آنار او لکه د چمچمار د ټکه غړی چې هغه د چا خبره صفا اوبه پکې ښکاریدې ، ننداره پې کوله.

نجلی خپلې سرې قلمې ګوتې د عامر سترګو ته وځوځولې او وپې ویل:

عامر صیب،

عامر داسې وویریدو لکه چې د مرګ آواز دې پرې کړی وي او په لړ زنده لهجه پې وویل:

بلې صیب او تاسو؟

زما نوم شګفته دی او زه د دې د فتر سیکرتره یم.

تاسو مهرباني وکړی کینئ، تاسو ولې ولاړه یاست؟ زه ،زه په دې د فتر کې د ریپوټر په صفت نوی مقرر شوی یم .

پوهه یم ،ماته رېس صیب ستاسو یاد ؤنه کړ پده، زه تاته د دغې وظیفې اخیستومبارکې د رکولولپاره راغلې یم.

خوشاله اوسې، خو تاسو کینئ زه چای میوه درته را وغواړم .

نه مننه پیابه شي، بس ما ویل چې پیژند ګلوي به سره وکړو اومبارکې به هم د رکړم، څنګه ته د لته خوښ خو پې کنه؟

ډېر زیات ،ستاسو ډېره مهرباني چې ماته مو پخپل د فتر کې ځای راکړو.

زه هیله لرم چې ته به خپل مسؤلیت په ښه شان وپېژنې او خپله در سپارل شوې وظیفه به په ښه شان تر سره کړې.
ستاسو دعا پکار ده ، خدای دې نکړي چې له خپل مسؤلیت نه به غافل کېږم.
ښه ده زه درنه ورځم، که څه ستونزه وه نو ماته ویلی شې.
عامر په سینه ورته لاس کېښود او ژیاته یې کړه
د ډېره مننه.
بس ښه وظیفه درته غواړم، د خدای په امان، ښه ورځ ولرې.
ستاسو هم په مخه ښه.
شګفته لکه د برق د عامرله د قتر نه لاړه او عامر پر خپله چوکۍ کیناست ،یو شېبه یې ییا په خیال کې ددې منظرڅخه لید نه وکړه ، زړه ته یې ټپ ورکړ،خپلې سترګې یې دد قتر په چت کې ونیولې او ویې ویل:
یا خدایه ستاد خدایۍ نه ژارشم، دا څنګه حسن دې ورکړی ؤ، دا غټې غټې سترګې، سرې ګلابي شونډې............خدایه زماد زړه درزا خو آورې کنه ، هم هغه څوک به زما د زړه دا درزا قراروي د چاپه لومړي ځل کتو باندې چې زماپه زړه کې دا درزا پیدا شوې ده........

د هغې ورځې نه وروسته به عامر کله هم چې د خیال ښاپیرۍ له لاسه ونیولو،د شګفتې څنګ ته به یې بوتلو او ییابه یې د شګفتې سره د مینې په ګل بڼونو کې وګرځولو نو دا اراده به یې وکړه چې سباته به شګفتې ته ټول د زړه حال وایي، خو چې کله به د شګفتې سره مخامخ شو،د هغې انداز به یې وځارلو اود هغې رویه به یې وڅېړله نو خپله کړې

اراده په يې بد له کړه او وبه يې ويل چې ددې نه زياته مينه هسې نه چې د جدايې لامل وګرځي.
د ورځې نهه يا لس بجې وې، عامر په لاس کې يو ګلدان نيولی ؤ، د شګفتې د دفتر دروازه يې خلاصه کړه،د ننه د راتلو اجازه يې وغوښته،
زه راتلی شم؟
شګفته ورته پاڅيده،
مهرباني وکړه عامره راځه کېنه.
مهرباني
عامر په يو نظر ګلدان اوپه بل نظر شګفتې ته کتل، په زړه کې يې ډول ډول پوښتنې ګرځېدې، ګلدان يې پر ميز کېښود او پر چوکۍ کيناست.
عامره څنګه يې؟
د خدای احسان دی صيب او تاسوڅنګه ياست؟
شکردی مننه، خوعامر خانه دا ګلدان د څه د پاره؟
دا مې په ښارکې وليدو او ومې پټيېله چې دا به ستاسوپه د فترکې ډير ښه ښکاره شي نو ځکه مې راوړ،هيله لرم چې تاسو به مانه دا ګلدان قبول کړی.
ډيره مننه ،ددې څه ضرورت ؤ،

(په دې وخت کې په تيليفون زنګ راغی)، شګفتې خپله قلمې ګوته پورته کړه،
يو دقيقه عامرخانه، زه تيليفون ته ځواب ورکړم.

شګفتي څپلي منګاري ژلفي شاته واړولي اود ټيليفون ګويه يې غوږ ته ونيوله.

بلې رييس صيب،بلې ما ورته ويلي دي ، ښه سمه ده ،سمه ده بس دا دي درغلم............ عامرد شګفتي د سرو شونډو ټنداره کوله چې له د سپړلي په شمال دوه ګلابونه د يو بل سره ډغري وهي. شګفتي د ټيليفون ګويه کېښوده او ژلفو ته يې څنډ ورکړ:

عامرخانه.

عامر'' له په خواږه خوب اوده انسان باندي سړې اوبه توېې کړي'' وبووږنيدو.

بلې صيب

عامره خيرخودی، ته داسې وارخطا ښکاري معلومېږي.

نه صيب داسې هيڅ خبره نشته، رييس صيب څه ويل؟

هغه د نوي پروژې دپاره مود شورا غړي راغوښتي دي ،هغوی دپاره د يوې جلسې پحقله رييس صيب څه خبري کول غواړي، هغه ته ورځم ،ته دي څپل د فتر ته لاړشه او د رسپارل شوي کارونه خلاص کړه او بيا د رييس صيب د فتر ته راشه، سمه ده؟

بيخي سمه ده، دغه دی لاړم.

♣♣♣♣♣♣♣♣♣♣♣♣♣♣

يو ورځ چې عامر لږ ناوخته د فتر ته راغی، نود د فتر ټوله کارډله يې په يو ځای د رېس صيب د فترکې وليدله ،د

روغبړ کولوسره سم ورته رېس صيب په نازنينه لهجه وويل:

عامر خانه ته چېرته ورک وي؟ هم ستا انتظار مو کولو.
عامر هم په خندارویه لهجه ورغبرګه کړه:
ولې خیرشه رییس صیب څه نوې خبره ده اوکه څنګه؟
نه نوره څه خبره نشته خو دریمه ورځ زمونږ د د فترد سیکرتري
شګفتې واده دی ماویل چې ټول مشوره وکړو چې ډالۍ به ورته د څه څه آخلو؟
د دغې خبرې په اوریدو سره عامر داسې شو لکه چې د ژوند لویو نه لویه هستي یې له لاسه ورکړې وي،ځان ورته داسې بې بېشیدو لکه چې د خدای په خدایې کې یې هیڅ برخه نه وي ،په سترګو یې تیاره راغله، سر یې په دواړو لاسونو ونیولو او یو شېبه چوپ پاتې شو، خوا کې ورسره ناست کارکوونکي وخوځولو:
عامره چېرته لاړې؟
عامر ور پیېدو ، یوسوړ اسویلی یې وکړاو په ژړغوني غږ یې ورته وویل:
رییس صیب فکر نکوم چې د دې خبرې ترون ټول درسره وکړې، نو که زما منې د هر چا خوښه هغو ته پرېږده.
ټولې کار ډلې د عامرخبره تاید کړه او رییس صیب هم یې له څه ویلو ورسره ومنله.
د واده په دریمه ورځ شګفتې خپلې ټولې ډالۍ (تحفې)خلاصولې او نومونه یې پرې لوستل چې د عامر ډالۍ یې خلاصه کړه یو کاغذ یې پکې وموندو چې پکې لیکلي وو:

"سلامونه اونیکې هیلې مې ومنه!

د هرڅه د مخه درته د نوي ژوند مبارکي وایم اود لوی خدای څخه هیله لرم چې دا نوی سفر به په ډیر خوند او خوشالی سره سر ته ورسوي. ما چې دکومو امیدونو شمعې بلې کړې وې او پیاد هغوشمعوپه رڼا کې د نورو امیدونو شمال ته خلاصه سینه ګرځیدم خو زه دومره لیونی وم چې دا پته راته نه وه چې د هرموسم شمال هیڅکله یو شان نه وي، ځکه هغه شمال چې زه ورته خلاصه سینه ګرځیدم اوخوند مې تري اخیستو، خدای هم هغه شمال کې داسې جذبه واچوله چې زما د زړو امیدونو شمعې خو یې خود مړې کړې اوخپله یې هم په شا را ونه کتل" د خدای په آمان

یو وړوکی ریپوټر
عامر
اولاندې یې یو انځور ورته کښلی ؤ چې پورا ورته سرې سترګې په یو غوټ شوي ښاخ باندې ناست ؤ او یو لاس د ګلاب هغې ټنکی غوټۍ ته چې د غوړیدو په حال کې وه، د شوکولو دپاره غځیدلی ؤ.

## خوبونه

ځوان مې ولید و، په بد حال ؤ، جامې یې شلیدلې وې او خیرن څېرن ؤ، ځان ته یوازې ناست ؤه او پرځمکه یې لیکل های افسوس های افسوس ، څو ګامه وړاندې ترې تېر شوم ناڅاپه مې په زړه کې څه راغلل، پښه نیولی شوم او ور وګرځېدم. د پښو په سرو ورته کېنا ستم سرې سترګې یې راپورته کړې شونډې یې سلګو نیولې وې، چې د ا حال مې ولید په زړه کې مې اندېښنه په زیاتیدو شوه ،د صبرتار مې پرې شو،اخیر دا چې تپوس مې ترې وکړ،

وروره ته څوک یې؟ ولې د لته په دې د ښته کې یوازې ناست یې او تاسره څه شوي دي چې پرځمکه لیکې های افسوس های افسوس؟

سلګو نیولې شونډې یې وخوځېدې،

ته څوک یې ؟

ما پرېږده خوته راته لومړی خپله کیسه وکړه ، چې دا په تاڅه شوي دي او وجه یې څه ده؟

-شونډې یې ور پیدې،

- څه به درته ووایم، د حال تپوس مې مه کوه څو دو مره راته ووایه چې مین خونه یې؟

په حیرانتیامې ځواب ورکړ، نه ولې؟

ښح پښه یې وغزوله او پسې زیاته یې کړه، ولې ،ولې څه وي؟ خو بس مینه ونه کړې، نورمې مه غږوه.

د اند یښنو اباسین مې زړه کې په غورځنګونو شو او په بیړنده لهجه مې ورغبرګه کړه ،

نه داسې خوښم نه کيږي ټول حال به راته وايې بيا به درنه ځم.
- دغې خبرې اوريدو سره يې وښکې مسکا ته ځان جوړ کړ، ښه نو ته زما د ژونده څېر يدل غواړې؟
هو هرومرو.
ښه نو دا يو درد ناک داستان دی پياغوړشه. ماهم يې واره ورته وويل ، بس غم يې مه کوه غوږ يم څو ته مې له حاله خبر کړه، دا خبره مې لا خلاصه کړې نه وه چې پلا تح مې ورته ووهلې اولاس مې زنې ته ورکړ. يو سوړ اسويلی يې وويست اوخبره يې پيل کړه.
زه اول اول د زلميتوب په باغ کډ شوی وم ، زمونږ په کلي کې يوې جينۍ ليد لی وم، زه به مکتب ته تلم راتلم هغې به راته کاغذونه راليږل، د وسمالونه به يې په ګوتو جوړ وو او زما نوم به يې پکې ليکلی ؤ هغه به يې راليږل، خوما پرې ځان نه پوهاوه، څو ځله مې د انکار پيغامونه هم ورليږلي وو خو هغې خپله کړې فيصله نه ماتوله، د ژوند شپې ورځې تېر يدلې ،يوماذيکرمې چې وليده سور ګل په لاس ولاړه وه، ما چې فکر وکړ نو ځان مې ملامت کړ، ولې پيازه هم انسان وم د ژوندي زړه څاوند وم، بس زړه مې د سور ګل په بدل کې ورکړ ، په وختونو کې داسې وخت هم راغی چې يو ساعت بې د هغې د ديدن نه راباندې نه تير يدو، د همدې مينې په سر باندې رانه مور او پلار ناراضه شول، خپلوان اود وستان مې پر دې شول، مامې د مور او پلار نه د هغې د رشتې غوښتنه وکړه اوهغوی بې له دې

چې د هغې کورته په جرګه ورشي زما خبره رد کړه.

څود هغې په مینه کې د ومره لیونی شوی وم دومره لیونی شوی وم چې د انجام غم راسره نه ؤ، ترڅه وخته یې راسره ښه مینه وپاڵه څوکله چې هغې ته د دې هرڅه پته ولګیده ،چې د هرڅه نه یې وویستم نو یوکاغذ یې راولیږلو چې د سلام پر ځای پکې لیکلي وو :-

(د خدای په امان)

زه هغه پیغله نه یم چې چاپسې شیرینۍ، شیر بانو اویا لیلا شم څوڅوک تر دې رسوم چې مجنون ،یوسف خان او یا مومن خان شې، ته بس همد ومره ښه وې چې پوزیشن به دې کاوه ، زده کړه به دې کوله اوخوشحال به ګرځیدې، دوستان دې ډیر وو او په مور پلار باندې ډیر ګران وې ،د هرڅه نه مې وویستې. او لاندې یې دغه لنډۍ لیکلې وه

هغه اوس هم لاسونه مروړي

څوک چې زما تش په خندا تېروتي دینه

د دې لنډۍ په ویلو سره یې غټې غټې سلګۍ وکړې اوپه سلګوسلګوکې یې پسې زیاته کړه:

چې اوس مې داحال دی ، د سیالی، دوستی اوخوشالی د هرڅه نه ووتم، د غمونو،در دونو او پیغورونوسره مل یم ، کور نه یې شړلی یم ، دوستانو پر ښی یم ،اوس سر ګردان ګرځم، په دې بد حال پاتې یم ،په انجام کې راته خراب اوخاورې ایرې ژوند رسیدلی دی، دا زه چې لیکم های افسوس، های افسوس ،داپه دې مانا چې که

ما یې د زړه د ساتلو کوشش نه وای کړ ی نو زه به نن ولې په بد حال کیدم؟

زما هر چاته داپیغام دی چې نن صبا مینې مینې نشته، هغه څوک چې مئین نه وي، هغه دي داسې ځان ترې وساتي له څوک چې سوئ لاس ساتي او چې څوک پکې ښوخت وي هغه دې ترې د ځان اوزګارولو داسې کوشش وکړي له د بل اور نه چې ځان لرې ساتي کنې نوزماپه...............د ناصره ښچې غږمې تر غوږو شو چې سترګې مې وغړولې نو مورمې سرته ولاړه وه راته ویې ویل، پاڅه ناصره ښچې سره غرمه شوه.

## د اختر شپه

په کلي کې به هره ورځ د ځېلو همزولو تر منځ همدغه بحثونه روان وو، چا به ويل چې ماته پلار نوي جامې جوړې کړې دي ، چا به ويل چې ماته مې ورور ځولۍ اخلي ، چا به څه ويل چا به څه........همداسې شېنو هم ويل چې ماته مې پلار .......اخلي ، زه به ورته ووايم. د روژې پنځه ويشتم ؤ ، ماسخوتن جمال او ګل زري چاپيو ته ناست وو، شېنو وويل:

بابا ماته مې ټول همزولي پېغورونه راکوي چې تا ته به په يو اختر کې هم پلار څه نه اخلي، دا ځل خو به هم. دا ځل خو به راته.

شېنو غلی شو ، ګل زري ورغبرګه کړه او ورته يې وويل

هو زويه ، دا ځل به هرومرو درته هرڅه اخلي، چې څه غواړې هغه به درته اخلي.

جمال د ګل زري خبره پرې کړه او په زړغوني غږ يې وويل :

هو شېنو بچی چې ته څه غواړې زه به يې درته واخلم، بس همدې نن سبا کې جامې خلک وړي چې يې پوسي نو .

شېنو منډه کړه ځېلې څپلۍ يې ورته رواخيستې او د جمال مخ ته يې ونيوې:

دا وګوره کنه بابا څپلۍ مې هم زړې شوې دي ، ټولې شکېدلې دي او دا جامې مې هم زړې شوې دي.

دا يې وويل ، څپلۍ يې يوړې او د غولي په يوه څنډه کې يې کېښودې، بيا راغی د مور په خواکې کېناست. جمال ګل زري ته وويل :

ښځې رنګين خو نن بيا په غوږه ووهلم چې.

هغې يې خبره ورپرې کړه او په پيره يې وويل

رنګين؛ رنګين څه وايي؛

جمال يو سوړ اسويلی وو يست او د تکيې په کولو يې وويل

نور به څه وايي خو يبا به يې فکر کړی وي کنه چې سيزن يې وهلی دی ، جامې يې جوړې کړې دي، خو ده ته څه پته ده چې په موږ څه تيريږي ،دی خو.

جمال غلی شو، ګل زري ټيکری د سر نه لرې کړ ، سترګې يې د چت په تورو تيروڼو کې ونيوې او وچې شونډې يې وخوځېدې

يا خدايه پاکه ته د رنګين د زړه زور کم کړې، ته يې وردوې، ته يې پڅپل صورت خوږمن کړې چې لږ د خوږمنو زړونو درد ورمالوم شي، دی ولې زموږ د ګريوان نه ګوتې نه وباسي، اخېر موږ ورسره بد څه کړي دي چې دی موږ په قراره نه پريږدي، څه رانه غواړي؛

شپېنو به جمال او کله ګل زري ته رد رد کتل خو څه يې نه ويل.

شپې ورځې رالنډ يدې د روژې اته ويشتم ؤ ، د جمال ټولې جوړې کړې جامې خپلو خلکو وړې وې دوه درې جوړې پاتې وې........د ماذيګر وخت ؤ ، جمال د بخت شمالي سره خبرې کولې ، بخت شماله د جمال مشره خور وه دري کاله وړاندې يې خاوند په يوه چاودنه کې په حق رسيدلی ؤ او د خپل دريم زوي سره اوسيده چې اوس جمال د اختر دپاره راوستې وه. د دروازې په ټکېدو د دوی دواړو د خبرو کولو تسلسل مات شو، جمال ورته وويل خورې ته وار

وکړه زه يې وګورم چې څوک دي؛ دې ويلو سره پاڅيدو او ور غږ يې کړ.

ځوک يې هلکه؟
له بهره غږ راغځ
زه يم جاويد
ښه جاويده درغلم ،
ځېلځ يې په پښو کړې او ورغځ ، بهر يې د جاويد سره د روغبړ کولو نه وروسته ورته وويل
راځه کنه جاويده ولې ولاړ يې؟
نه منډه، ژوندی اوسې، په کور کې مې ميلمانه دي.
جمال يې خبره ونيوه
خير خو دی کنه جاويده ځنګه راغلې؟
جاويد جيب ته لاس تير کړ ، يو کاغذ يې ورته راوويست او ورته يې وويل جماله دا هلته پوليس راکړ ويل يې چې دا به جمال ته ورکړې جلب دی.
د جلب نوم په اوريدو باندې د جمال ګوتې په رپيدو شوې ، جلب يې رواخيست او په رپيدلو شونډو يې وويل
جلب؟
مخکې له دې چې جاويد ته د شپې ست وکړي ، د اند پښنو سره کوټې ته روان شو، کوټې ته د ننوتوسره ورته ګل زرې او بخت شماله پاځيدې ، دواړو د جمال تښتيدلي رنګ ته کتل ، جمال ځوړند سر غولې ته تير شو او کيناست. ګل زرې په غلې غږ ورته وويل:
خير خو دی کنه د شپنو پلاره ؟ ځنګه غلی يې،
بخت شمالې د ګل زرې خبره وريړې کړه او جمال ته يې وويل

دا څه دي ؟ دا کاغذ چې دې په لاس کې دی ؟
د جمال رنګ تښتېدلی ؤ ، داسې ښکاریدو لکه چې په سترګو کې یې د
چانه ګیله کوله، څو د چانه یې کوله دا تر اوسه پټچپله جمال ته ښکاره وه
یوازې جمال ته، سر یې ښکته پورته کړو لومړی یې څور ته بیا یې
شېښو او بیا یې ګل زري ته د کتلو سره وویل، جلب دی
ګل زري او بخت شمالي دواړو په یو غږ وویل
وی څدایه ، دا څه وایې،
بخت شمالي پسې زیاته کړه
جلب ؟ د څه شي جلب ورورہ؟
جمال داسې ښکاریدو لکه چې په کور کې د چانه شرمیدو، غلی پاتې شو،
ګل زري چدي شوه،
سړیه ته چوپ ولې یې؟ دا د څه شي جلب دی؟
د جمال د خلې نه بې اختیاره وختل
رنګین راباندې عریضه کړې ده
بخت شمالي وویل
رنګین درباندې عریضه کړې ده ؟
هو رنګین
څو ولې؟ د رنګین درسره څه بد دي چې یې.........جمال یې څبره
وریږې کړه
نور یې هیڅ نشته څو دا فکر یې کړی دی چې کار یې شوی دی.
د اختر ورځ وه هر څواته څوښی څپلې وزرې غوړولې وې، ګل زري او
بخت شماله دواړې د نغرې پورې راپورې غاړو ته ناستې وې او
ژړیدې، په دې وخت کې شېښو راننوتو ، د راتلوسره یې ګل زري ته
وویل مورې زما جامې څو رواځله کنه،

ګل زري زر پاڅیده ، شڼو یې په غېږه کې وینو ، هغه هک حیران شو او ګل زري ورته وویل زما زویه نوې جامې دې لا تر اوسه پلار نه دي راوړې ، نوري جامې به درته رواخلم هغه واغونده ، چې دې پلار نوې جامې راوړي بیا به هغه واغوندې ،
شڼو وویل مورې بابا مې تر اوسه نه دی راغلی ؟
هغه په ښار کې دی تاته څپلې اخلي او راځي.
شڼو زړې جامې واغوستې ، بېهر ووت، د ماذیګر مهال ورته یو همزولي وویل شڼو کومې دي ستا نوې جامې او څپلې چې پلار درته راوړلې،
شڼو په سپېرو شونډو یوه څندا وکړه او ورغبر ګه یې کړه
بابا لا د ښار نه نه دی راغلی ، داسې ښکاري چې ماته به یې څپلې نه خوښیږي.
خو هغه ته دا پته نه وه چې بابا یې د اختر شپه او ورځ په زندان کې تیر کړل.

د زړه درد

تر ډيره په کلي کې چوپه چوپتيا وه،داسې چې که يو مسافر راغلی وای نوداسې به يې ګڼله چې ګڼې په هر کور کې غم پېښ شوی دی، تر ډيره همداسې هم ؤ څکه ،چې دا پېښه همداسې هم وه، چرته چې به دوه سره يوځای شول بس همدا به يې ويل چې ډير ظلم يې ورسره وکړ،هر چا به د دې پېښې پړا د جمال پر غاړه اچوله،رېښتيا هم دوی ټولو رېښتيا ويل، هر چا به د خپلې مفکورې نه خبره رااېسته، دغې خبرې به هر چاته ډير زور ورکولو چې ورته رایاده به شوه چې په تابوت کې نه ځايده پيا يې د بازارنه ورته بل تابوت راوړ.

د ښځو دا فطرتي عادت دی چې په ړومبي ځل کتو باندې په چا زړه نه بايلي، که څوک وايې نو هغه به څه مقصد ضرور لري، نوضرور ده چې پرڅه هم يوه پېغله وه ،باسيواده وه او پيا د يو ډاکټر لور وه، که څه هم چې په دې سلسله کې د زده کړې هيڅ کار نه وې خو پيا هم پرڅه مجبوره شوه چې خپل زړه زاهد ته ورکړي ولې چې زاهد په کلي هغه يوازينی ځوان ؤ چې په هر کار کې يې بريا ترلاسه کوله او ټول حرکات يې داسې وو چې د هغو په وجه باندې يې د خلکو په زړونوکې ځای نيولی، د پرڅې په شمول ډيرو نجونوورباندې زړونه بايللي وو، د ډير نجونو د خوبونو شهزاده زاهد ؤ يوازې زاهد.

څو ولې چې زاهد هم خپل زړه په دې دومره نجونوکې پرځې ته ورکړی ؤ که څه هم چې

نورې نجونې د پرځې نه ښکلې هم وې خو دا چې مینه په ښایست نه کیږې بلکه........
تر ډیره دواړه په یو بل داسې نه وو پوی چې ګنې دواړه په یو بل باندې مین دي ، دواړو به دا کوښښ کولو چې سره وګوري ، پرځې به ځان ته ویل چې دا ځل به ورته ضرور د زړه کیسه کوي او زاهد به هم همدا خبره کوله څو چې سره میلاو به شول نو سیوا له کتلو نه به یې نور هیڅ سره ونه ویل. د ډیرې همداسې خاموشې مینې نه پس د مینو زړونو غوټې د یو بل په وړاندې وسپړیدې ، په یو بل د لنډې مودې لپاره نړی تبې ولګیدې ، د یو بل په ستر ګو کې خپل خپل عکسونه ولیدل شول، یو بل ته د زړونو خبرې وشوې، ځوانې جذبې وې شوخې څو به خامخا کیده، دواړه له خپلو نصیبونو څخه ډیر خوښ وو، دواړو پخپلو نصیبونو ویاړونه کول،
خدای زده چې له کومې خوا؛ څوک دریم خبر شو ،شیطانې یې وکړه ، پر دوی یې د مینې شپې پیرزو نه شوې، چې د د وی په اړه یې د پرځې پلار ته خبر ورسولو، خدای زده چې د هغه په زړه به څه تیریدل، شیطان به ورته څه خبرې کړې وې؛ خو بیا هم هغه یو پښتون ؤ، بیا یو ډاکټر ؤ، په دې خبره ښه پوهیدو چې دا زما لپاره ډیره لویه بې عزتي ده ، دا خلک به څه وایې چې د ډاکټر فاروق لور د جمال زوې سره مینه کوي ؟

هغه څه چې یې کولای شول او مناسب یې ورته ګڼل په لور یې وکړل ،
وهل ټکول، منتونه زاری ،

خو چې هغه په دې وپوهیده چې خبره ښکاره شوه، نو څه به یې کول بس هر سختې ته یې غاړه کېښوده او د زاهد په مینه یې اقرار څه چې د هغه سره یې د واده کولو قسم هم وکړ .
فاروق سره د ټولې کورنۍ ډیر په فکر کې ؤ ، پرځه یې د پوهنتون څخه وتړله، په دې خبره چې پیا زاهد خبر شو نو هغه د چا خبره چې لنډی قیامت وړباندې تیر شو، زړه یې په درزیدو شو، رنګ یې ورځ په ورځ له د کورکمان په زیړ یدو شو خو دا چې یوه نامالومه حادثه یې په ژوند کې راټلونکې وه ، پلار ته یې د پرځې سره د واده کولو وویل خو بد بختې دلته وه چې د مال دولت خوار نه ؤ ، کاشکې چې پلار یې د دولت په نشه کې خمار نه وای، کاشکې چې غریب وای، پیا به یې پلار ولې ددې رشتې نه انکار کولو.
او پلار به یې ولې ډاکټر فاروق ته انکار کولو؟ د هغه سوالګیرو ستر ګو ته یې هم ونه کتل چې یو ډاکټر ترې د خپل عزت خیرات غوښتو، فاروق څنګه خبره ورته تاوه راتاوه کړه ، څنګه یې ورته په خواره خله وویل چې زما لور خپل زوې ته وکړه چې عزت مو په عزت پاتې شي، څومره ځله یې ورته وویل ، څومره ډیر انتظار یې ورته وکړ خو هغه څومره د جهالت په تیارو کې ورک ؤ چې.........؟
هغه ډاکټر ته ،کوم چې دده نه د خپل عزت خیرات غوښت ، څومره تریخ ځواب ورکړ، چې ستا لور زما د زوې سره جوړه ده نو نوره به د څومره خلکو سره ........توبه خدایه د هغه پلار به څه حال وي چې څوک یې

د لور په هکله داسې خبرې کوي او دی ورته ګوري؟
د هغه ډاکټر فاروق به څه حال ؤ چا چې د هغه نه د خپل عزت خيرات غوښت، خو شايد ځکه به يې څه نه ويل چې هغه سره به د خپلې لور د .....وېره وه. که دا خبره جمال ته چا کړې وای نو هغه به څه کول، هغه وخت به يې يا د ده حال څنګه ؤ؛ دومره حوصله به يې کړې وای لکه څومره چې.......؟
اوس ووايې چې د داکتر فاروق حوصله د ستايلو ده او که نه؟ د هغه پښتون زړه د ستايلو دی او که نه؟ خو يا هم چې داکتر فاروق هر څه وکړل ،دا ټول د جمال په جهالت دلالت کوي او زه خو وايم چې څونونه به يې هم د هغه پر غاړه وي ولې چې.......
يو سحر چې د لمر شغلې ايله ايله په کړکيو ننوتې، ناڅاپه ډزونه وشول ، د ډزونوسره موږ ټولو کوم چې د جومات ديواله سره سهارنی لمر ته ناست وو ور منډې کړې، يو نفر چې زموږ نه وړاندې ور رسيدلی ؤ د زاهد سر يې په خپل زنګون ايښی ؤ او په وينو کې لت پت ؤ، دا خو هر چا ته څرګنده وه چې دا کار چا کړی دی؟ ولې چې د زاهد او پرخې مينه په ټول کلي کې د ښځو او نرو د خبرو کولو موضوع ګرځيدلې وه ، په يو وار د څو نفرو غږونه واوريدل شول چې ويل يې : هله کټ راوړی .
په کټ پسې به څوک تللي وي يا نه ، چې په دې کې د فاروق په کورکې د ډزو سره چغې جوړې شوې ، د ډيرو نه زاهد هير شو او هلته يې ورمنډې کړې ، موږ زاهد کټ ته

پوره کولو چې هلته نه چا د پرخې د مرګ خبر راوړ ، په دې کې د زاهد مور او پلار هم راورسیدل ،زاهد مو په کټ کې واچولو ، ټول کلی چغو په سر اخیستی ؤ داسې څوک نه وو چې د دوی په معصومه مینه یې ویر نه کولو، په هغه ورځ ریښتیا چې په هغه کلي کې د هر چا له سترګو د زړه د درده اوښکې توییې شوې او د هر چا زړه د زړه نه درد وکړ.

## د مغفرت دعا

په زړه کې مې داسې درز پیداشوی ؤ چې نه پوهیدم چې بیابه پیوند شي اوکه نه؟ خدای زده چې هغه شیبه به زماحال څنګه ؤ؟کله چې مې د پاکستان څخه د افغان مهاجرود وتلوعلان واورید زړه مې موړ شوی ؤ دوډۍ خوند نه راکاوه په نهره به موړوم،خوب به نه راتلو شپې به مې په شوکیروسباکولې اودغه سوچونه به مې کول چې دا ولې زه په خپل هیواد کې مهاجریم؟ولې د ړپه د رکډه په سریم. ولې اخیرولې؟ داټولې خبرې به راڅخه هیرې شوې کله چې به مې نیاژیینه د زړه په هنداره کې ولیده هغه به شاید چې زما په څیر دغم په ټالونوکې زنګیده. ولې به نه زنګیده چې د لاندې ورته د هجر لمبې سرې سرې اوښتې اودابه د پاسه د تقدیر په هغه پان ورته ولاړه وه د کوم نه چې په ډیرې تیزۍ سره د غم سپیرو بادونو لوټې اوشګې پیلولې او شیبه شیبه یې د پریوتو امکان زیاتیده. څه به درته ووایم یوخواد مینې غم، بل خوا د پیلتون په چړو رانه غوښې پیلیدې او بل خوا راته د نیاژیینې سره لیدل هغه لیدل کوم چې زما اود هغې وروستې لیدل وو ډیر ګران ایسیدل. خود ډیرکوښښ نه پس مې د هغې سره ولیدل. کله چې یوځای شوو نو زړه مې غوښتل چې هغې ته د خپل چاودلې زړه کیسه تیره کړم ،خپل تازه جوړشوي

زخمونه ورته ښکاره کړم اود راغلي جدايي څخه يې خبره کړم خوماته څه پته وه چې د هغې په زړه زمانه وړاندې دا د غم کاروان ډيره شوى دى، هغه

چې مې څنګه وليده دا لنډۍ راته رايادة شوه چې:- ما ويل چې زه به ورته ژاړم

جانان له ورايه ستر ګې سرې نيولې دينه

زه نه وم خبر چې هغه هم د پيلتون له هغه کاروان نه خبره شوې ده کوم چې زموږ د مينې په کلي کې ډيره شوى دى اوموږته اوس د يو بل په يادونو ژوند کول رانښيي ، له راتلو سره سمه راته په ژړا شوه ،سلګو ورڅخه د خبروکولواختيار واخيست او اوښکي خو يې له وړاندې نه د اننګو په کنډوونو تيرې شوي وې اولا رواني وې، سر يې راته په ټټر کېښود، داسې ښکاريده لکه چې زما د زړه درزا به يې د خپلوسلګيوسره مقايسه کوله ددې پرځاى چې دلا ساپې کړم ترې عاجز شوم ولې چې ماهم هغه خنجر په زړه خوړلى ؤه د کوم زهرلړونکي خنجرد لاسه چې نيازبينې پخپل زړه کې جوړشوي زخمونه د ارمان په اوښکو وينځل. څومره نادانې اوڅومره مجبوري وه ؟ په هغه لنډه موده کې چې بايدموږ يو بل ته ډېرډېرکتلي واى يو بل ته موډېرڅه ويلي واى، يوبل موډېرډېرښکل کړي واى ،يوبل ته مود زړونو غوټې څنډلې واى خوموږ تر ډېره پخپله نيمګړې مينه وير وکړ ،موږ ترډېره يو بل ته ونه کتلى شول، خدايږده که تراخېره موڅه ويلي واى خو ولې چې وخت لکه د تربور راته په سر ولاړ ؤه. که څه هم چې ماکې هم د خبروکولو توان نه ؤه خوسرمې يې په

دواړو لاسونوکې ونیو اوځان ته مې مخامخ کړه  په داسې غږمې ورته وویل
له چې ستونی مې چا کلک نیولی وي.
لیونی ماته  وګوره مه ژاړه.

په رومبې ځل مې پې ستر ګې داسې سرې ولیدې  له نورکله مې  پې چې
غمبورې سره لیدل ،داسې وخت ؤه چې ماسره به په خندنګ کې ناسته وه
غمبورې به پې  تک  سره شول له د کند هار انار، اه خندنګه ښکلی  وخت
ؤه.  نن هم  په خندنګ کې راسره وه خو غمبورې پې داسې مړاوې وو له د
مېرې ګلونه چې د باران په طمعه د حالاتوپه ګردونو خړپړ اومړاوې ولاړ
وي.  خو  ولې چې نن پې ستر ګې داسې سرې وې چې مابه پکې خپل
ځان ته ولیدل نوخپل  تصویر به مې دېرتت  پکې وموند  چې شاید دابه
هم زما د ستر ګو علت ؤه  چې دېرې اوښکې ترې  توپې  شوې وې.  پزه
پې پورته کش کړه زما په مخ پې خپل هغه لاس راتېر کړ  په کوم لاس
چې پې راته د سمال کې په غشې لګېدلی زړه جوړکړی ؤ  او  په غړیو
نیولې غږ پې راته وویل،
  ته ولې ژاړې؟
هغه پوښتنه چې له دېروعاشقانوبه خپلومعشوقوکړې وې،دېر به ددې
پوښتنې په ارمان کې تللې وې او دېر به زما په څېر وایې چې کاشکې
خدایه چې دداسې پوښتنې  تر بړیده  دې نه وای رارسولای. ددې
پوښتنې ځواب راسره نه ؤ  نوځه به مې ورته ویلې وای؟ له کومه مې کړې
وای؟ له چامې پوښتلې وای څوک وو هه څوک؟

یوازې نیازبینه راسره ولاړه وه هغې نه به مې څنګه پوښتل په کوموستر کومې ترې پوښتلي وای؟
د اننګونه مې یې اوښکې ور پاکې کړې او په ژړغوني غږمې د یوې غمجنې موسکا په بډ رګه ورته وویل،
ښه نه ژاړم هه.

دواړه کیناستو د یو پل د ژړونو درزا مو اوریده ولې چې دواړه غوږ غوږ وو، ښیبه وروسته نیازبینې په غریو نیولي غږ وویل .
امیره څبره شوې یم چې تاسوځېل وطن ته ......سر یې ښکته کړ څبره نیم کې ترې پاتې شوه اوغتې غتې سلګې یې وکړې ، توبه څدایه څنګه وخت ؤ، ولې هم هغه وخت کې نه مړکیدم؟ د زړه د تل نه مې د زړه په وینوککړه څبره راوویسته او ورته مې وویل
هو نیازبینې تا ریښتیا اوریدلي دي موږځېل هیواد افغانستان ته ځو، نیازبینې ما ډیرکوښښ وکړ چې درسره وګورم څو وړاندې راته هیڅ موقع په لاس نه راتله څو له نیکه مرغه چې اوس موقع په لاس راغله نو نن راته ډیرډیر وګوره، نیازبینې ډیر ډیر راته وګوره، څدایږده که بیاَ په ژوند سره وګورو. هغې په ژړغوني غږ زما څبره پرې کړه او ویې ویل.
داسې مه وایه امیره څدای به مو بیا سره یوځای کړي څو که.......څبره مې یې ور پرې کړه اوپه سوزناکه لهجه مې ورته وویل
څدای زده نیازبینې چې زه دې ژوندی پاتې شم ،ته اوس هم په دې هیله یې چې بیابه سره وګورو،نیازبینې ماته نوره طمع مه کوه زه به ستا د جدایی د ومره د روند غم ونه زغملی شم ، لکه چې ایله دومره وکولای

ښځه چې خپل پلرني ټاټوبي ته په ژوند واوړم نو ډېره به وي. هغې مې په خله لاس کيښود اوسر يې په داسې حال کې د نه په ماڼا وخوځولو چې په سترګوکې يې

رانه زما د ژوند خيرات غوښت اويو د سمال يې راوويست چې پښځېلو ګوتو يې زما نوم پرې ليکلې ؤ، يو زړه يې پرې جوړ کړی ؤ کوم چې په غشي لګيدلی ؤه اوسرې وينې لاندې ترې څڅېدې او په داسې انداز يې راته ووېل لکه چې ژړا يې د ورانديې په ځېر په زړه کې ډېره ښوې وي،
نه اميره ته به داسې نه کوې، ته به زما دپاره ژوندی يې، ته به زما د يادونو د ژوندې ساتلو دپاره ژوندی يې، ته به هره شپه زما له لورې د سپوږمی نه سلامونه اود مينې کيسې اخلې اوزما احوال به ترې پوښتې، که تا داسې د ژوند نه مخ واړولو زه به بيا چاته د سپوږمی له لارې سلامونه ليږم؟
نه پوهيږم چې هغه ساعت به زه څنګه ښکاريدم؟ ولې نه مړکيدم ،کاشکې چې مړشوی وای چې د هغې د مرګ غم څومې نه وای ليدلای کنه، په رپيد لوشونډو مې ورته ووېل څو نيازبينې دومره غټ غم به زه ونه زغملای شم ،دا غم داغم به ضرور زما د ژوند ملا ماتوي. زه څومره دروغجن يم چې تراوسه ژوندی پاتې يم، کيدای شي چې هغې ته مالباسې وينا کړې وي کنې نو ولې........
څومياشتې وروسته په څه بهانه بيا هغه ځای ته لاړم د کوم ځای نه چې څومياشتې وړاندې په کډه راغلی وم په همدې هيله چې نيازبينه به وګورم خپل د جدايي په لمبو سوزيدلی زړه به ورته وښيم څو هلته مې

ایله د خپلې نیازبینې قبر ته د مغفرت دعا د غوښتو په هیله د خدای په دربار کې لاسونه لپه کړل او سبا ته په بې مانا

پوله خپل پلرنې ټاټوبي ته په چاود زړه راستون شوم.

دوه ګلونه

شپه راباندې سمه کال شوې وه، د سحر مُلا اذان ته مې د انتظار ځولی غوړولې وه ، دوه درې ځله د بچو کټ ته ورغلې وم دواړه په خواږه خوب ویده وو ،د صبر جام مې په ډکیدو ؤ چې د خدای نوم مې ترغوږو شه، بس پاڅیدم اودس او لمونځ مې وکړ ل ،په خاوند باندې مې غږ وکړ، هغه هم پاڅیدو اودس یې وکړ اود لمانځه دپاره جومات ته لاړ ،ما ځایونه جارو کړل او چای مې وکړ، خاوند مې هم د جومات نه راغی ، د لمر شغلو په دالان کې اتڼ واچاوه ،زه لاړم په بچیانو باندې مې غږونه وکړل، هغوی سرې سترګې راپا څېدل، یو بچې مې په وړو وړو لاسونه سترګې ومښلې ، داسې ښکاریدل لکه سحر وختې دوې د ګلونو غوټۍ وې ،چې یو د اټو کالواو بل د یوولس کالو عمر درلود ،په ځانونو باندې مو قسم قسم ټنګسې تېرولې خو په دوی باندې مو زده کړه کوله او غوښتل مو چې غټ سړي ترینه جوړشي، یوه په مینه راته وویل.

موري........

مور درنه ځار بچو پاڅي چې ناوخته شو ېیا به مو په مکتب کې معلمان وهي پاڅی.

بل وویل، ښه ده موري پاڅیږو.
ښه ده زه درنه لاړم بس پاڅیږی چای سړیږي.
دواړو مخونه ووینځل او راغلل، ټول چایوته کینا ستو ،د چا یو په څښلو بوخت شوو،خاوند ته مې وویل:
سړ ېیه خوب مې لید لی دی خو نه پوهیږم چې و یې ښیم اوکه نه؟ زما خو زړه درز یږي. خاوند می مسکی شو سر یې وخوځاوه او ویې ویل :
وایه وایه څنګه خوب دې لیدلی دی؟ ښه دې لیده .
سړ ېیه خوب خو داسې ؤ چې په یو باغ کې مې د وه ګلونه شوکولي وي، په لاره باندې روانه وم چې ناڅاپه یوه تېزه بړ بوکڼ راشي،د لاسه مې هغه دوه ګلونه وغورځوي ،په هغه ځای کې خړې خو پڼې ( دوړې) جوړې شي، شیبه وروسته بړ بوکڼ ختمه شي ،زه په ګلونو پسې چغې جوړې کړم او وایم چې زما ګلونه زما ګلونه ، چې په ګلونو مې نظر پر یوزي دواړه ګلونه پاڼې پاڼې پراته وي، زه په چغوچغو وایم چې وی خدایه زما ګلونه ،دا خوما په ډیرو دعاګانو غوښتي وو او هر څومره یې چې راټولوم نه راټولیږي، آخر پخپلو چغو پسې راویښه شوم. خاوند مې مسکی شو په کشر زوي یې لاس واچاوه اوځان ته یې نږدې کړ، هغه ستړګې ورواړولې:
دا ټول د لمانځه برکت دی چې لمونځ نه کوې، لمونځ کوه بیا به داسې خوبونه نه وینې، ښه ده زه درنه ځم چې د مزدوری راباندې ناوخته کیږي، زامنو تاسو مکتب

ته لاړشې ښه، د سرک په غاړه باندې ځې چې موټر مو ونه وهي.
هغه د دې خبرې کولوسره پا څیده روان شو. زامنومې چای وڅښلو او پا څیدل، د مکتب بکسې یې رواخیستې اومکتب ته روان شول، زه هم پا څیدم چاینک پیالې مې اوچتې کړې، بیا مې د زامنو، خاوند او خپلې جامې راټولې کړې چې ویې وینځم د جامو په وینځلو بوخته شوم، خو په طبعیت کې ګډه وډه وم، د هغه پروني خوب نه مې شیبه شیبه په زړه کې ویره کیده اوپه دې سوچونو کې ډوبه شوم چې خدای مه کړه که دغه خوب رښتیا شي اودا............نوزمازړه خوبه پړک وچوي.
بیا به مې په زړه کې ځان سره وویل چې لیونۍ دا ته څه په ګډو وډو اخته یې؟ بیامې د جامو په وینځلو پیل وکړ هغه مې ووینځلې، ډیره ستړې شومه، بیامې ترکاري او روټۍ پاخه کړه، د کار نه چې فارغه شوم لاړم په برانډه کې پراته کټ کې مې لږ سر کیښود، سترګې راباندې پټیدې چې بچیان مې د مکتب نه راغلل د راتلوسره یې راته وویل مورې نن خوداسې وږې یو لږه زر روټۍ راته تیاره کړه کنې کار خراب دی.
په کټ کې کیناستم او ورته مې وویل: ښه ده ګلونو تاسې کینۍ زه اوس اوس روټۍ درته راوړم. دا خبره مې ورته وکړه او اشپازخانې ته روانه شوم، دوی په برانډه کې کیناستل، ناڅاپه مې په زړه کې پړک شو اوځان سره مې وویل، لیونۍ

دا دې څه وویل.....؟ بیامې د ځان سره وو یل:

نه مړې خداى په خير کړي دا ته څه ليونۍ يې.

خو د پروني خوب نه مې لمحه لمحه زړه کې ويره زياتېده، په اشپاز خانه کې مې د يک نه تر کارې اچوله چې نڅاپه درز شو،د درز سره مې څمڅې له لاسه وغورځيده، په زړه کې مې پړک شو،ټول کور ولړزيدو ، په تيرونوکې کې ټسا لاړه، ټول کور په د وړو کې پټ شو،د زامنو يولوى عکس چې په شيشيي چوکاټ کې مو بند کړى ؤ د ديوال څخه راوغورځيدو او شيشه يې زرې زرې شو ه.د خُلې نه مې يوه سوې چغه ووتله خدايه خيرکړې خدايه ........له چې پرونی خوب ........ په کورکې هيڅ هم نه بر پېښېد ل، يو بل خواته مې منډې کولې او چغې مې وهلې، بهرمې د خلقو چغې واوريدې؛

د ننه کوټې ته ورشی چې څوک خو به پکې نه وي ،زنانه وکورى، دا مونږته پر يږدى موږ يې ټولوو.

په منډه د کوټې څخه ووتم ،په کورکې د کليوالو شور جوړ ؤ ، يو څو نفره په ځمکه اخته وو څه يې راټولول، چې ومې ليدل د دواړو زامنو غوښې مې په دالان کې ټوټې ټوټې پرتې وې، د يو بل اندامونه نه پيژندل کيدل ، د ورتلو هڅه مې وکړه خوخدايږده چې سړي وو اوکه ښځې؛ کلکه يې ونيولم ،په ژړا ژړاکې مې ويل ،يه بچيانو پاڅی، بچيانو څنګه د روټی په ارمان کې لاړی، پاڅی بچی پاڅی روټی تياره ده. ما که هر څومره چغې ورته

ووهلې څو هغوی داسې د همېشه دپاره څفه وو چې یو هم راته غبږ نه کولو. په کورکې موسم محشر جوړ ؤ، زما پروني څوب ربښتیا شو او هغه دواړه ګلونه راته د مرګ بړ بوکځ پاڼې پاڼې کړل.

## شپونکی

طوطي شپیلځ بند کړه ،ودریده پڅپله رمه یې نظر واچاوۀ، ډېرې لرې لرې یې ولید لې، ور پسې روان شو، ټوله رمه یې څوړ ته د اوبو څښلو دپاره ورټوله کړه، رمه په څوړکې د اوبو په څښلو بوخته شوه، طوطي چینې ته ولاړ، هلته یې د چینې په غاړه دسمال، شپیلی او لښته کیښودل، په چینه پریوت، چې د اوبو په څوند کې ورغی، د پښو ښکالو یې تر غوږو شوه،په ملا سته یې غصه کې ورته وویل:

چکریه شه څدای مو تباه کړه څو هلته یې څښبی کنه، د لته څه کوی چې راغلځ.

د پښو ښکالو غلې شوه ،دی پیا د اوبو په څښلو شۀ، پیا یې د پښو ښکالو لۀ نږدې نه واوریده، په پا څېدو کې یې لښته رواخېسته او ویې ویل:

ودرېږې اوس به مو څېپله هم خوښ شم.
لاسونه يې ولګول چې پاڅېدۀ په اوبوکې يې انساني څېره ولیده ، ووېر
پدۀ د  وئ ادي کوکه ( چغه ) یې لۀ خلې ووته، نیغ ودرېدۀ ،مخ یې
رواړاوۀ یوه نجلی یې ولیده ، وارخطا وه ، وپښتۀ یې ګډ وډ په هغه مخ
باندې پاتۀ وو چې د شنو خالونو ونې پرې جوړې وې، طوطي هک
پک ودریدۀ . نجلی سرې سترګې ورپورته کړې او په لړ زنده لهجه
یې ورته وویل؛
مانه مانه یوه وزه ( چیلی) ورکه ده ،ستا رمې سره خو به نۀ وي ګډه
شوي؟
وزه؟ نه زما رمه کې خو نشته کنې تاسو یې پخپله پکې وګورئ.
نه خېردی تاسو خو بۀ څه دروغ نه وایئ کنه، بس نۀ به وي پکې.
نجلی د ( په خدایه اوس چرته پسې لاړه شم) ویلوسره خپه رانه شوه. د
طوطي زړه صبر ونکړ هغو خورو ورو زلفانو چې د نجلی په مخ لکه ماران
پراتۀ وو زړه خورؤر کړ، غږ یې پسې وکړ:
اې اې تاته وایم. نجلی مخ ورته رواړاوۀ او ورته یې وویل،
څه دي؟
طوطي لښته په لاس اړوله راړوله په داسې انداز یې ورته وویل چې
سترګې یې په ځمکه کې نیولې وې.
ما ویل زه به یې درسره ولټوم ،تۀ به یې یوازې څنګه ګورې؟
ژوندی اوسې، ورور هم راسره شته، هغه یې په بل تنګي کې ګوري ،
پیدا به شي .

نجلی روانه شوه ، طوطي پخپل ځای پاتې شۀ ،څه ویل یې غوښتل خو ژبه یې بنده شوه ،د ورور خبرې خوند ورنکړ ، دسمال یې رواخیست د نښتر څواته کیناست، لږه دوړې یې وخوړه ،دسمال یې بند کړ په اوږه د پراته څادر په پیڅه (پیڅکه) باندې یې ځله صفا کړه ، شپیلی یې رواخیسته او په غږولو یې پیل وکړ ، کله کله به یې د ځُلې نه په ژوره وختل ( یه خدایه چاته دې پرېښوو).

د ماذیګر لمر په دو پیدو ؤ، طوطي رمه ټولوله، په لاره کې یې یو د اوږدو ویښتو او غټو بریتو لرونکی ځوان د هغې نجلی سره ولید ، یوه وزه یې روانه کړې وه، طوطي ور غږ کړ :

وروره ستړی مه شې، وزه مو پیدا شوه؟

خیر اوسې، هو پیدا شوه ، خدای دې یې ورکه کړې، رمه په غرۀ کې څرې ( وابښۀ خورې ) اودا میراث مړې خوږونه کوې.

ښه څه شکردی چې پیدا شوې وې.

طوطي هغه نجلی د ستر ګوپه شپول کې راګیره کړې وه، هغې هم څو ځله سرې ستر ګې ورته رواړولې، هغه پې لۀ دې چې د هغې د ورور لۀ وحشې څېرې څخه وویرېږې د هغې نظر بدر ګه کاوۀ.

خدای خبر چې په طوطي به شپه څنګه تېره شوې وې؟ سحر سحر یې رمه غرۀ ته بوتله ،په یو تنګې کې یې بله رمه ولیده تلوسه یې زیاته شوه، چې دا بۀ د هغې رمه وې اوکه نه، هغه به ورسره راغلې وي ........؟ دغو پوښتنو یې د ذهن بازار ښۀ ګرم کړی ؤ ، خپله رمه یې بلې غونډۍ ته وشړله او د یو نښتر سیورې ته

کیڼاسټ، ښۀ چوړټ  یې وواهۀ، ببایې شپېلی رواخیسته ،یوه اولسي سندره یې پکې پېل کړه ، چې په غرۀ کې د ګڼو  ونو شغا ورسره لکه د موسیقی اوریدل کیده او مزه یې یو په دوه شوې وه، څو شېبې وروسته یې یو پوسټ ټوخی واوریدۀ ، شپېلی یې بند کړه ،مخ یې واړاوۀ ،رنګ یې وتښېدو، زړه یې په درزیدو شو زر پاڅیدۀ او په مسکایې ورته وویل:

ته اود لته ؟ولې ببا درنه وزه ورکه ده اوکه.........؟

ټجلی ستړ ګې ښکته کړې او ورغبر ګه یې کړه،

نه نن وزه رانه نه ده ورکه  خو چا رانه بله غلا کړې ده.

غلا؟ دا څۀ وایې چا او د څه شي غلا ؟

دا خو هغۀ ته هم پته شته چې چارانه غلا کړې ده، خو حیرانه یم چې زورور ورته وواېم او که ناپوهه چې غلا یې رانه کړې ده او مخامخ هم راته ولاړ دی.

طوطي یو بل خوا ستر ګې واړولې او پسې زیاته یې کړه:

دا څه وایې، ستامطلب څه دی او ته څوک یادوې؟

زه ،زه تا یادوم تارانه غلا کړې ده، هغه هم د زړه.

څه د زړه؟

هو د زړه بل د څه؟

ښه نودا خبره ده ،ګوره شین خالی ته څومره خوش بخته یې چې په غل خو دې غلا ثابته کړه ،خوخدای خبر چې زما نه چا غلا کړې ده هغه به اقرار وکړې اوکه نه؟

نجلی په داسې حال کې چې په څېره کې يې سوروالی له ورایه ښکارېدو وويل:

ښه ستا نه هم غلا شوې ده؟

هوکنه ، لکه څنګه چې ته په يو شوخ غلۀ اوښتې يې او زړه يې درنه پټ کړی دی، د غسې زه هم په يو داسې جادو ګر غلۀ اوښتی يم، چې په لومړي نظر يې رانه زړه وړی دی، اوس اوس ورته د اظهار کولو جرأت هم نۀ لرم.

ته رېښتياوايې؟

زما دې ستا په دې غلچکو سترګو قسم وي چې پرون مې ليدلې يې نو زړه مې د خپل ځای نه يې ځايه شوی دی ، هغه پرون چې مې تاته وويل چې زه به يې درسره ولټوم نو هلته زه خپله دومره ستړی وم چې د ځای نه نۀ شوم خوځيدی خو ما ويل پر يږده چې لږې خبرې ورسره زياتې کړم، خو تا داسې په دوو ټکو کې د خبروسلسله ختم کړه چې زه دې حيران درپاڼ کړم.

پرون ما هم غوښتل چې ستا خبرې واورم خو زما ورور داسې ځر دماغ انسان دی، شپه ورځ چرس څکوي، په نۀ څۀ خبره جنګ کوي او قسم يې راته کړی ؤ چې وژه پيدا نۀ شي ژوندی دې نۀ پر يږدم ، بيا خو يې چې تاسره هم ليدلې وی نو سمه بهانه به ورته جوړه شوې وه، پرون خو به دې ليدلی وي څېره يې څنګه د وحشت نه ډکه ده.دې و پلوسره د نجلی غږ ژړغونی شو خو طوطي يې خبره وريږې کړه،

هو والله داسې ناروا څېره يې ده چې څه به درته ووايم.

ښه دا راته ووايه چې ستانوم څه دی او چرته اوسيږې؟

ژما نوم طوطي دی په بدرخیلو کې اوسیږم اوستا څه..................؟
ژما نوم سپوږمۍ دی او ژمونږ ستاسو نه لاندې کلي کې کوردی، درې میاشتې وړاندې دې کلي ته راغلي یُو.
د سپوږمۍ سره به یو وړوکی ورورهم غرۀ ته راتۀ هغه به یې په بله غونډۍ کې رمې ته کیناوۀ اوسپوږمۍ به د طوطي سره ناسته وه،
د دواړو مینه دومره خوږه وه چې په ورځ کې به یې یو ځل سره ونۀ لیدل نو شپه به وربانديِ کال وه ،ټوله ورځ به د یو بل په لیدو اود مینې په خبرو نۀ مړیدل ، ډوډۍ به یې په شریکه خوړه ،کله کله به د مینې په خبروکې هغه هم ترې هېره شوه، چې ماذیګر به شو نو دواړه به له د لیونو په رمو پسې په غونډیو ختل کوزیدل ،کله کله بۀ د هغې د ځُلې نه بې اختیاره وختل ، خدایه که رمه اخوا دیخوا شوه وروربه مې مړه کړي.
سپوږمۍ ته به د طوطي شپېلی ډیر خوند ورکاوۀ ، ډیره په مینه به یې اوریده.
څو ورځې پرله پسې سپوږمۍ غرۀ ته رمه رانۀ وستله ، طوطي ډیر ژیات پریشان ؤ ، په زړه کې یې بېلې بېلې پوښتنې ګرځیدې، د پوښتنې لاره یې هم نۀ وه چې لۀ چا یې حال پوښتلی وای ،د هغې جدایې یې ونۀ شوه زغملی ،یو ورځ ورپسې کلي ته ورغی، هلته یې د چانه د هغې پوښتنه وکړه، هغۀ ورته وویل چې د هغې ورور هغه د یو کلیوال سره وویشته، هغۀ ویل چې دواړه یې سره نیولي وو، اوس د هغې د کورنۍ کډه د دې کلي نه چرته بل ځای ته

ټللې ده، څو په کلي کې د هر چا په خُله دا خبره وه چې د جلال د مخکې نه د هغهٔ سرې سره نهٔ لګیده ، هسې یې خپله یې ګناه څور ورسره ووژله.

ګل څڼکه

سایره د ټغري غاړې ته ناسته وه ، لرګي یې په ټغري کې سم کړل، سترګې یې د لوګي نه سرې شوې،د سابو په پاکولو بوخته شوه او په ټیټ سر یې ګل څڼکې ته غږ وکړ :

ګل څڼکې وڅڼکې چیرې یې؟

آموري د لته یم غوجل کې، غوجل جارو کوم درځم.

ښه زرراځه.

سمه ده موري ، بس دا لږ ځای پاتې دی درغلم.

ښه ده لورې

د ځان سره یې غلي وویل

څدای خودي رانه زر ورکه کړه نا راستې، نیمه ورځ شوه اوته په غوجل لګیا یې ،دا نورکارونه به دې مور کوي او که پلار؛ شېبه وروسته ګل څانګې کَشری کېښود ،راننوته، په خندا یې خوابښې ته وویل :
مورې سابه دې صفاکړل ؛
هو ! دغه دې صفامې کړل ،ته د یوې رواخله چې ناوخت شودا به پیا پخیږې کله؛
مورې بس نوره ته یې غمه شه، نور یې ماته پر یږده ،ټول کارونه به وشي.
سایرې په خبره ژبه ورغبر که کړه
لورې دا ته خو داسې خبرې کوې لکه چې یوازې همدا سابه درته پاتې وې، نور ټول کارونه دې خلاص کړې وې، دوړی درته پاتې ده ، دا سابه زر زر وراوچوه ،بیا هغه جامې وبالې ته یوسه ،ویې وینځه، ژبیر بښه درته مالوم دی چې هرشی په څله کې غواړې، چې ځنډ شې بیا به ټول کلی درباندې خبرکړې.
ګل څانګه د خوابښې په خبرو رو رو موسکی کېده ، د یوې بغار ته یې اوبه ور واچولې، په انغرې یې کېښود ، سابه یې ور واچول او سر یې ورپسې بند کړ؛
مورې بس دا اور ورپسې سموه ، زه به جامې وبالې ته یوسم.
بښه څه، ته جامې یوسه خو ډېره ورکیږه مه په وباله باندې، هسې مه کینه.
بښه ده مورې زه ځم.
بښه څه ورځه.

ګل ځانګې یو غټ لاګن جامې ټولې کړې وې، لاګن یې په سر کړ، زرخیلې ته یې غږ وکړ، هغې هم جامې په لاګن کې را وویستې او دواړه ویالې ته روانې شوې. په لاره کې ورته زرخیلې وویل:
ګل ځانګې ډېر دې ناوخته کړ خیر خو ؤه کنه؟
هو خیر ؤ ، تر کارې مې نه وه پڅه کړې اوکور مې نه ؤ جارو کړی ، ځکه راباندې لږ ځنډ شو.
زرخیله چې د دوی ګاونډۍ وه ، د هرڅه نه خبره وه ، ورته وېې ویل:
ګل ځانګې ژېږ اوس هم هغسې دی او که لږ ښه شوی دی؟
د ګل ځانګې رنګ وتښتیدو، یو سوړ اسویلی وویست ، په زړه کې یې وویل چې صفا حال ورته مه وایه او مخ یې ورواړاوۀ،
نه اوس د مخکې نه ښه دی.
ښه څه شکر دی.
دواړه ویالې ته ورسیدې ، لاګنونه یې کېښودل، ګل ځانګې یو جوړ جامې په لا ګن کې واچولې، اوبه یې پرې واچولې او څنګلې یې ورته پورته کړې، د کینڼ لاس څنګل یې په شنه دوا باندې ککړه وه ، زرخیلې چې ولیده ،ټټر ته یې لاس واچولو:
وای ادکې مورې، ګل ځانګې دا په څه ؟
د ګل ځانګې چې پام شو ،رنګ یې وتښتیدو،
دا ،دا په په اور
زرخیله په خبره کې ورولویده
بس بس ځانګې زه پویه شوم، خدای دې د ده لاسونه مات کړې چې دومره ظلم یې درباندې کولو، دا د انسانانو کار دی؟ خدای دې یې د ښې ورځې نه پېټ کړي، یو ورځ خو نه ده،

ګل څانګې ته پخپله بې وسه ژړا ورغله، غټې غټې اوښکې ترینه تویې شوې اوچاودې شوندې یې د سلګیو په سیلۍ وریږدې زرخیلي دېره تسلي ورکړه، خود ګل څانګې زړه د مځکې نه ډک ؤ، تشه پلمه یې غوښته، بس د لته یې د جامو وینځلوسره خپل زړه هم ښه تش کړ،د جامو وینځلو نه وروسته دواړې کورونو ته روانې شوې، ګل څانګه چې کورته ورسیده په کور کې یې د زبیر اواز واوریدو چې ګل څانګې پسې یې بد رد ویل. د ګل څانګې زړه په درزیدو شو، لاکن یې کېښود او په نه زړه کوټې ته روانه شوه ، چې کوټې ته ننوته د سایرې اواز یې د غوږونو پر پردو ولګیدو،

زبیره بچی ما خو ورته وویل چې جامې به بل وخت ووینځې، اوس یې پریږده ، خو زما کله منې ،ما ته خو د خوابښې په نظر هم نه ګورې،

په دې وخت کې ګل څانګه ورننوته ، سایرې چې ولیده، خبرې پکې ورکې شوې، لاړې یې تیرې کړې. د زبیر چې ورپام شو، په مسخریزه لهجه یې ورته وویل:

د ګلونوڅانګې چرته تللې وې چې اوسه پورې ورکه وې؟

ګل څانګې په لړزنده اواز ورته وویل:

هغه جامې مې وړې وې د وینځلو دپاره.

چپ ، چپ د وینځلو دپاره دا ترکارې دې مورته پر یښې وه ، هغه ورته راتله او که پلار ته؟

ماخودیک بڅارته .........زبیر ور روان شو، ستړګې یې ورپسې راوویستې ، ته اوس ماته څوابونه راکوې؟

یو څپېړه پې ورکړه، سایرې ورته رامنډه کړه، زبیره بچې مه یې وهه، دا خلک به څه وایي چې هره ورځ یې په کور کې په څه باندې شور جوړ کړی وي.
زبیر ورته په قهر وویل
پر یېږده موري چې داسې خره دې راته کوله نو دا حال خو به وي.
ګل څانګې په ژړاکې ورته وویل
پرېږده خوابښې چې نن ستا زړه هم یخ شي، دا خو یو ورځ نه ده، د لته خو تاسو زما ژوند په سره اور نیولی دی، پر یېږده چې مړه مې کړي، د داسې ژوند نه خومرګ ډیر ښه دی.
زبیر چې څپېړه ورکوله، ګل څانګې کین لاس ورته را اوچت کړ او هغه سوي مړوند ته ولګیده، چې زبیر په تغري باندې ورغورځولې وه او مړوند یې سوی ؤ، د ګل څانګې د خلې نه بې اختیاره ووتل:
وی ادکې.
زبیر ورته په غصه وویل:
چې ته بیا ماته ځواب رانکړې، ستا ژبه ډیره اوږده شوې ده، نن به زه تانه داکټ کوم.
سایرې زبیرته وویل:
بس که زویه توسری ده، ښیرې به درته وکړي،
ګل څانګه یې د لاسه ونیوله
ځه لورې ځپلې کوټې ته لاړه شه، ځه.
زبیر ورپسې وروسته نه وویل
ماته چې ښیرې کوې، ځان ته دې دعا وکړي چې لږ انسان توب زده کړي.

سایرې ګل ځانګه ځپلي کوټې ته اېساره کړه او دروازه يې ورپسې راښده کړه ،

زبير يې له لاسه ونيو او ورته وېې ويل:

راځه زبيره، راځه بچی ،تا ښه ونکړل چې هغه خوږ مړونډ ته دې ووهله، هسې نه چې ورپسې خراب شي.

پريږده موري ، ښه مې وکړل، هغې ماته ،،،

ددې خبرې سره د زبير په کوټه کې پرله پسې د ټمانچې درې ډزه وشول ،د سايرې د خُلې نه يې اختياره ووتل،

وی خدايه ډوبه شوم.

زبير پخپل ځای هک پک ودريدو، سايرې چغه کړه،

ګل ځانګې

او ورمنډه يې کړه، زبير هم ورپسې په رپيد لو قدمونو ور روان شو ،سايرې دروازه ورخلاصه کړه او چغه يې کړه ،

زبيره ډوبه شوم، ګل ځانګې ځان وويشت ،

زبير په دروازه کې ور ودريدو او ګل ځانګه يې په وينوکې لته پته مړه وليده.

لټون

احمد په لاره باندې روان ؤ، یو کاغذ یې وموند چې پکې لیکلي وو:
سلام زه د چانه نور هیڅ نه غواړم، صرف هغه مینه غواړم چې دې د ظلم بازارکې یوڅوظالمانو راڅخه لوټلې ده ،زماپه شان به نورې څومره تورسرې د دې مینې په لټون ګرځي اوخپلې سرې معصومې سترګې به هرې خواته اړوي، څوڅوک به ورته د دې مینې نه ډک نظر نه کوي، ماهم د هغو نه یوه وګڼه اوکه څوک غواړي چې د یوې افغانۍ تورسرې حیا وساتي نوماته دې په دې شمیره زنګ ووهي، ولې چې په دې معاشره کې یوې پیغلې نجلۍ ته یوازې ژوند تیرول ډیر ګران څه چې ناممکن دی.
د خدای په امان

کوچۍ
احمد چې دا خبرې ولوستې نود تلوسې په باغ ګډ شو اود اندیښنوقسم قسم ګلونه یې شوکول، نه پوهیدو چې څه وکړي؟ د صبر جام یې ډک شو، ګرځنده تلیفون یې رواخیست اوهم هغه شمیره یې پکې ووهله چې په کاغذ لیکل شوې وه، زنګ تیرشو ،د احمد په زړه کې ټک شو او په زړه کې یې بېلې بېلې پوښتنې ګرځیدې چې په دې وخت کې د مقابل لورې نه غږ واوریدل شو:
بلې.
بیب بلې ،سلام علیکم.

وعلیکم السلام ،څوک؟
زه، زه احمد خبري کوم، ما په لاره کې یو لیک وموند چې پکې لیکلي وو.......................اولاندې ترینه دا شمیره لیکل شوې وه.
بلې هغه هم ما لیکلی ؤ، هم زه کوچۍ یم ،ستا څه اراده ده ؟
زړزما هم همدغه ارمان دی چې د ژوند په خوږو پوی شم ،خپل راتلونکی ځان ته جوړکړم ، خو بیا به چرته سره وګورو ؟ ښه سبابه په ......... کې سره وګورو.
بس خوښه مې ده .
احمد ټیلیفون بندکړ ، د خوشالۍ نه په ټوپونوشو او ویې ویل، یا خدایه دا دې په ما څنګه پېرزو وکړه، هسې نه د خوشالۍ نه مې زړه چاؤد نشي.
شپه وربانديې سمه کال شوې وه، ټوله شپه یې سوچونه کول او د کوچۍ بېلا بېل انځورونه یې د خپل زړه په اېینه کې لیدل . سحر چې ټاکلي ځای ته ولاړنو یوه نجلی یې ولیده، نجلی د ونې لاندې ولاړه وه، د ښکلا ثاني یې نه وه خو شونډې یې چاؤدې وې. احمد چې ولیده لږ ترینه پېښه نیولی شو . نجلی غږ ور وکړ :
احمد جانه راځه راځه.
احمد په حیرانۍ ترې وپوښتل
هغه ته ته یې؟
بلې هغه زه یم ،ما هغه کاغذ لیکلی ؤ.
احمد چې ولیده نو زړه یې باغ باغ شو او د خدای شکر یې ادا کړ، ور روان شو، لږ لرې ترې ودریدو، کوچۍ په مسکا ورته وویل،
احمد جانه واقعي چې ته یوعظیم انسان یې.

احمد په خپل مخ لاس تېرکړ او ویې ویل:
تاسو له چا څخه څه د مینې غوښتنه کړې وه او دا پېږرزو خدای پر ما وکړه.
هو، ما له چا څخه هغه مینه غوښتې وه کومه چې په دې دنیا کې نن سبا زما په شان یې اسرې تورسرېو ته ضروري ده،
ته، ته به ما ته هغه مینه راکړې...
دا ، دا ته څه وایې، ته به ماسره مینه کوې او زه به انکارکوم ،خدای دې نکړي، زه به د خپل ژوند هغه ټول خوندونه ستا په پښوکې کېږدم کوم چې زما په وس کې وي، خو ما درنه دا تپوس ونکړ چې ته څوک یې، چرته اوسیږې ،اود چا لور خور یې؟
د کوچې ستر ګې سرې شوې اوپه سلګو نیولوشوندو یې ورته وویل:
پلار او دوه وروڼه مې په یوه چاؤدنه کې مړه شوي دي، اوس مې یوه بوډۍ مورده او یوه زه یم.
ښه بس سمه ده خو یوه وعده به راسره کوې، چې واده به راسره کوې، هسې نه چې د زړه په رنځ مې اخته کړې اوبیامې ..... کوچې له ډېرې ویرې په شا وتمبېده ،په لړزنده لهجده یې ورته وویل:
څه څه واده؟ زه زه خود یو سکه ورور د مینې په لټون کې ګرځم او ته ماسره دغه مینه کوې چې...؟
احمد داسې شو لکه چې د اسمان نه دې ځمکې ته را ګوزار کړی وي، سر یې په دواړه لاسه ونیؤو او ویې ویل:
څه څه؟ د یو سکه ورورد مینې په لټون؟

## لېعمل ډېر ثواب

تیاره په خوریدو وه، شیبه شیبه به د موترو تیزو ګروپونوسترګې نیولې د خلکو ګڼه ګوڼه ورو په ورو په کمیدو وه جمیل د موتر په مخکې سیټ کې ورسره ناست ملګري الیاس ته په خبروخبروکې مخ ور وړاوۀ ورته ویې ویل.

الیاس ځانه مایوسه ی لیدلی دی هغه به انشاءالله زموږ په کار راځي.

الیاس په حیرانی مخ وروا ړاولواو ترې ویې پوښتل.

څوک دی او ته څنګه د هغۀ په هکله دومره ډاډه ښکاریږې ؟ جمیل یې خبره ونیوه هغه ځکه چې زه درته د چاخبره کوم هغه زما ډېر نږدې ملګری دی رازدار ملګری مې دی خویوازې مې ترې زموږ ددې کاروبار راز پټ ساتلی دی. دې سره جمیل هغه موټر ته متوجه شو چې د دوی د موټر سره یې توقف کاوۀ ،موټرتیرشو دۀ بیا خپله خبره په داسې حال کې پسې وغزوله چې الیاس په غور اوریده.

په هغۀ ډېرې نا خوالې تیرې شوې دي له پلار نیکه نه یې غریبي او بې وسي په برخه ده د ژوند هره شیبه یې له غمونو ډکه ده اود زمانې ډېر ظلم زیاتی اوسیتمونه یې په زړه لیکلي دي، خویوه خبره په پام کې نیول ډېره ضروري ده هغه دا چې زه درته څه وایم ته به په هغې عمل کوې ځکه چې زه د هغۀ په خصوصیاتو ښه پوهیږم ، زه ښه پوهیږم چې کومه خبره هغۀ ته د منلو وړده اوکومه نه ده.

تیاري په کاینا تو څپلي وزرې غوړولي وې اولاپې ور پسې ښارکاوه چې کوم ځای څوبۀ پاتې نه وي. جمیل لا څپله څبره نه وه بس کړې چې د الیاس غږ د جمیل د غوږونو پردو ولګیدۀ .
جمیل جانه بس همد لته ودریږه نورکوځې ته مه ننوزه.
جمیل موټر تم کړ او ورته وېې ویل الیاسه سبا ته درته زه موټر راولم اوکه. الیاس یې څبره ونیوه نه نه څوشال اوسې دې ځای نه د ورځې موټر ډیر پیدا کیږي اومستري راته د سبا ورځې وعده راکړې ده انشاءالله سبا ته به که څیروي زما موټر هم جوړ وي. دروازه یې څلاصوله چې څپله څبره یې پسې وغزوله جمیل جانه ته د سبا نه هغه سړي سره وګوره اوپه دې څبره کار پیل کړه ،ورته ووایه چې د پیسو غم مه کوه کلداري افغانۍ نه بلکه واړه ډالر دي ډالر.
جمیل په نري موسکا سره ورغبرګه کړه، نور تۀ یې غمه شه ته یوازې ننداره کوه چې څه کیږي زموږ کاروبار پراختیا مومي اوکه نه.
الیاس د ښکته کیدو په حال کې ورته وویل ډیر ښه په تا مې همدومره زړه ډاډه دی، چې کوم کارته دې ور وړاندې کړم هغه په هرحال کې کوې، د څدای په امان.
جمیل ورته لاس پورته کړ ،په مخه دې ښه، شپه دې په څیر ویلوسره یې موټر شاته راتاو کړ او د څپل کلي سرک ته یې برابرکړ. پیټه یې ولګوله لږ وړاندې چې لاړ ګرځنده موبایل یې رواڅیست یو نوم یې پکې انتخاب کړ د منلو ok پر تڼې یې زور وکړ او غوږ ته یې ونیو، څو ثانیې نه وې پرې اوښتې چې بیا یې موبایل ستر ګوته ونیو ورپسې یې مخکینۍ عمل تکرار کړ، شیبه وروسته یې بې لۀ کتلو موبایل جیب ته واچاوۀ او وېې ویل داڅنګه چل دی موبایل یې هم بند دی، څو دقیقې وروسته یې

موټر د يو کور لوېې دروازې ته ودراوۀ هارن يې ووهۀ اوغلی شو . شېبه وروسته يې ټيپ بند کړ اوښيېښه يې ښکته کړه په وړه دروازه کې يو پينځه لس کلن هلک رابښکاره شوموټر ته يې وکتل جميل د کړکې نه سر ور وويست او ورته يې وويل.
رشيده دروازه خلاصه کړه . رشيد په پيړه ورته وويل
لالا ته يې؟
هو زه يم.
هلک دروازه خلاصه کړه جميل موټر داخل ته ننويست او ګل يې کړ ، ښيېښه يې پورته کړه څادر يې رواخيست او د هلک خواته راتاو شو .
رشيد جانه بابا راغلی دی؟ ( هغۀ په داسې حال کې چې دروازه بندوله ورته ووېل)
هو راغلی دی.
مانه خوبه يې څه نه وي ويلي ؟
( هلک دروازه بنده کړه راتاو شو او ورته ويې ويل)
پوښتنه يې وکړه څو نوريې څه نه دي ويلي.
داسې وخت ؤه چې د ماسخوتن مونځونه شوي وو جميل خپلې خونې ته ننوت ښځه يې په کټ کې ناسته وه تلويزون يې ليدو د دروازې کړپ سره يې پام راواوښت، په

جميل يې سترګې ولګيدې، پاڅيده ټيکری يې سم کړ او ورته ويې ويل.

په څېرراغلې ستړې مه شې.

څڅه مه شې. ( جمیل په کټ کې کیناست په داسې حال کې چې څادر یې د اوږو نه لرې کولو ښځې ته یې وویل )

لږې اوبه رواځله .

سمه ده ( هغې د ترموز نه ګیلاس ورته راډک کړ ور یې کړ، جمیل چې اوبه وڅښلې څه ویل یې غوښتل څو ښځې یې وار ړومبې کړ).

ډوډې دې څوړلې ده؟

هو؛

ترکاري څوښته ګرمه به یې کړم.

نه یې څورم څوړلې مې ده .

موبایل یې راوویست په okتڼۍ یې زور وکړ، موبایل یې غوږ ته ونیو، شیبه وروسته یې موبایل په میز کیښود ریموټ کنټرول یې رواخیست ، په کټ کې اوږد وغزیدۀ او د چینلونو په بدلولوبوخت شو.

د ورځې لس بجې شاوخوا وې چې د نعیم په موبایل زنګ راغی نوم یې وپیژاندۀ د okتڼۍ یې کیښکاږله او موبایل یې غوږ ته ونیو( یوازې ددۀ غږ اوریدل کیدۀ) په موسکا یې ورته وویل سلام علیکم جمیل جانه څنګه یې؛ د څدای احسان دی ته څنګه یې؛ ژوندی اوسې.

د نعیم څبرو نه داسې ښکاریده لکه چې جمیل ورته څه وظیفه پیدا کړې وې موبایل یې بندکړ د څدای په امانی سره یې موبایل په لاس کې ونیواوپه څوشالۍ یې وویل چې ملګری دې وې نو د جمیل غوندې دې وې.

نعیم په ټاکلي وخت ټاکلي ځای ته ولاړ جمیل د یوېل داسې نفرسره ناست ؤه چې بږیره برېت یې صفا کړي وود روغبړ نه وروسته ورسره کیناست او جمیل یې د الیاس سره تعرف وکړ ،بیا یې الیاس ته وویل چې د وظیفې په هکله ورته ووایي. الیاس وویل، نعیم جانه ماته جمیل ستا ټوله کیسه کړې ده ستامجبوری یې راته بیان کړې دي او ورسره یې ستاد ایمانداری هم راته ویلي دي ځکه مې وپټییله چې دا وظیفه ته په غاړه واخلې ولې چې دې وظیفې ته ستا په څېر ایماندار او زړور ځوان پکار دی. ( د نعیم زړه صبر ونکړ د الیاس خبره یې ونیوه)

صیب ستاسو ډیره مننه چې دا پېرزوینه موپرما وکړه، تاسو پخپله ښه سړی ښکاری خوراته ویلی شی چې وظیفه څه ده؟

جمیل د الیاس نه وار ړومبی کړ او نعیم ته یې وویل، نعیم جانه داسې وظیفه ده چې د افغانیو پکې هیڅ درک نشته واړه ډالردې ډالر. ( دې خبرې سره د نعیم په زړه کې د خوښی غوټۍ وسپړیدې او بې اختیاره یې له خلې وختل ډالر؟

الیاس وویل: هو نعیم جانه ډالر، اوریدلي دې نه دي چې لږ عمل ډیرثواب دا هم هغه خبره ده... کار ډیر اسان دی یوازې بس............دې سره غلی شو خو نعیم بیاترې د خبرو کولوغوښتنه وکړه او په بیړه یې وویل

بس څه؟

جمیل یې خبره واخیسته: بس دا چې یوازې د سرک په غاړو یا د پولچکونو لاندې اویا

په نورو ځایونوکې چې پوهیږې ماینونه ایښودل دي، ځای زموږ په خوښه او د الرستا...
د نعیم رنګ سورشین واوښت او پاڅیدۀ دوی هم ورسره پاڅیدل اوجمیل په تښیدلي رنګ ورته وویل.
و و ولې نعیم جانه خیرخو...
نعیم ورته په خله کوته کیښوده جمیل زرغلی شو نعیم ورته لګیا شو.
بد بختو، بې ضمیرو..............داستاسو وظیفه وه چې ماته موخوښه کړې وه زه مو د ځان په څیر ګڼلی وم ، څومره ښکلی مثال مو ورته پیدا کړی دی چې ( لږ عمل ډیر ثواب) زه خو درته د لږ عمل سره ډیر عذاب ځکه نه شم ویلی ولې چې دداسې عمل کوونکو لپاره د عذاب هیڅ حد نه وي.

هغه په ضرور راځي

دېزونو سره سم ،ټولوخلکو دو کانونو ته منډې کړې، واورېنه په کور کې ناسته وه ،ټېټر يې ووهۀ :

يا خدايه ما ورکه کړې .......

جانداد د نورو خلکو په څېر د وکانونو ته ورغی، چې صابر يې وليدو، تندی يې ترېو شۀ، خوالې ورپاندې راماتې شوې.

صابر په زوره خلکوته ووېل :

د کلي خلکو د نن نه پس زماد ترۀ جانداد لور واورېنه د هغۀ په کور کې زما امانت دی او زما په نوم شوه.

د خلکوپه منځ کې پس پسې شروع شول، د صابر په جانداد باندې نظر ځېن شۀ، صابر توپک يو هلک ته ورکړ او ور روان شۀ ، جانداد د کورمخه ونيوه ،دی ورته د مخ طرف نه راتاو شۀ ورته ودرېد ۀ او غلې غونډې يې ورته ووېل :

کوره جانداد کاکا زه دېره بخښنه غواړم ، ما،ماداسې کول نه غوښتل خودې ظالمې د نيا زه دې ته مجبورکړم، چې د خپلې مينې اظهار په ډاګه د دوی په وړاندې وکړم.

جانداد مخ ترې واړاوۀ او روان شۀ.

سباته د کلي يو څومشران او روستم د جانداد کره په جرګه لاړل، هغۀ ورته خپل ټا کلی ولور وښود، که جرګې هر څو اخوا ديخوا کړو خو جانداد يې د خپل ټا کلي ولور نه وانۀ ړاوۀ ،اخېر يې فيصله ورسره وکړه

،څرګه واپس لاړه، روستم چې کورته لاړ صابراو زیبا ورته راپاڅیدل اوصابر ورته ګلي ګوندي وویل:

لالا څه وشول فیصله مو وکړه؟ انکارخوبه یې نه وي کړی؟
روستم په درد ناکه لهجه ورته وویل:
نه صابره اقرار یې وکړ خوداسې اقرار چې انکار ترې یو په لسه ښه ؤ.
صابر په پیره ترې وپوښتل :
ولې لالا؟ ولې څه خبره ده څه یې ویل اوکه؟
نور یې هیڅ هم نه دي ویلي خو شپږ لکه (۶۰۰۰۰۰) افغانۍ ولور یې کېښود ، او کم و زیات دوه درې لکه یې د خوړواوپوکیږي.
د صابر رنګ تغیرشۀ روستم ته یې په شرمندویه لهجه وویل :
لالا تۀ غم مه کوه ، خدای خومهربان دی ،دا ولور به زه پیدا کوم اودې ترۀ په مخ به یې ور ولم هو.
یوه ورځ صابرد واورینې سره مخ شۀ، واورینې ورته وویل:
صابره دا تا څه وکړل څه؟
ولې واورینې څه بې غیرتوب خومې نه دی کړی ،که ته مې تښتولې وای ښه به وه اوکه داسې مې ښه وکړل؟
خو اوس به دا دومره ولور ته د کومه کوې؟
واورینې خدای به خیرکړي ،دا ولور به پیدا شي، خوتۀ ماسره یوه وعده وکړه چې ...
د څه وعده؟

دا وعده چې زه ترڅو نه یم راغلی ترهغې به ته چاته په ډولی کې نه کینې، که مړ یې راوړم نو بیا که...... هغې یې په خله لاس کیښود ، نه صابره دا څه وایې،

داسې خبرې مه کوه ،زه یوه پښتنه یم ،زه به دا خپل تور ویښته ستا په انتظار سپین کړم خو د بل په ډولی کې به لاړه نه شم .
هغه ځای کې دواړو یو شېبه ښې اوښکې تو یې کړې او بیا سره رخصت شول.
د سحر وخت ؤ، زیبا حجرې ته لاړه ترڅو پخپل لیور صابر باندې غږ وکړې، چې حجرې ته ننوته صابرنۀ ؤ، په ځای کې یې پوازې یو لیک پروت ؤ، هغې لیک راواخیست او په منډه منډه یې روستم ته راوړ. هغه حیران شو پاڅیدۀ او په حیرانی یې ښځې ته وویل: څه دې ښځې؟
سړیه په حجره کې خوصابر نشته دا لیک یې په ځای کې پروت ؤ.
روستم ژر لیک ترې واخیست چې ویې لوست پکې لیکلي یې وو.
سلام
ګرانه وروره زه په مزدوری پسې لاړم، خودا مالومه نده ،چې چرته ،خوکله هم چې د پاتې کید و ځای ته ورسیدم نو تاسو به خبرکړم ، زماپه وراندار او پخپله وراندار به ډیر خیال ساتې، او چې ترڅو زه نه وم راغلی نوتر هغې به جانداد دې ته نۀ پر یږدې چې خپله لورد بل په ډولۍ کې کینوي ،نورڅه نشته.
د خدای په امان
ستا وړوکی ورور

صابر روستم چې دا ولوستل ستر ګې يې سرې شوې اوليک يې په زړه پورې ونيو. زيبې په حيرانتيا ترې زر زر وپوښتل:

سړيه خير خو دی کنه ، ته ژاړې ولې؟ څه چل دی ؟صابر خان چرته دی؟

روستم په ژړغوني غږ ورته وويل:

صابر وروړمې چرته لاړ، خو هيڅ پته نشته چې چرته لاړ اوکله به راځي.

ما لا روژه نۀ وه نيولې چې نيا مې راته دا کيسه کړې وه او اوس زه د يو بچي پلار يم، خواوس هم کله نا کله زه هم هغه واورېنه ترور ګورم چې ليونۍ شوې ده او پخپلو ګډ وډو خبروکې داخبره ډيره تکرار وي چې ( هغه به ضرور راځي).

## وفا

اوس مې شپه ورځ په زړه کې اوسې هر وخت داسې راته ښکارې لکه چې کلونه کلونه یې زما په زړه کې تېرکړې وي خو څه وکړم اوس خوهیڅ هم نه کېږي سیوا د دې نه

چې خپل ځان ملامته کړم، اوس پوی شوم چې ایله ایله د سړیتوب په پولو روان شوی یم ،ایله ایله مې د ژوند منزل پیل کړی دی، هغه څه ژوند ؤ؟ هیڅ ژوند نه ؤ، هلته خو زه په ژوندوني مړ وم،کاشکې چې هم هغه وخت کې مې ژوند کړی وای نه د اوس ژوند چې له درد اوغم نه ډک دی، له شوګیرواو ژړیدو نه ډک دی، دا څنګه ژوند دی چې په سلګواواهونو یې تیروم. شاید چې دا به هم زما د ناپوهی سبب وي دا چې نن یې د زړه په اینه کې یو تت تصویر ګورم، ولې مې هغه تصویر نه تري اخیست کوم چې هغې ماته ددې دپاره راکاوه چې زه به یې د شپې مهال پاس د زړه په سر ږدم. های قربان شم د هغې د معصومیت نه، لوګړ شم د هغې د مینې نه څومره مینه یې راکوله خو افسوس چې زه هغه بدبخت یم کوم چې د چا د خوږین زړه فریاد هم نه اوري. اوس مې هم هغه وختونه ژړوي کوم وختونه به چې هغې ماته په نازونو تیرول چې په سترګوکې به یې پوهولم. زه خونادان یم ډیرنادان، کوم وخت به یې هیرکړمه کوم اخېر کوم وخت؟

هغه وخت به یې څنګه هېرکړم چې ما به په کومو پټو کې واښه کول هغه به هم هلته راغله چې وړوکې ورور او وړه خور به هم ورسره وو، څنګه به یې

هېرې کړم  هغه شیبې کله چې به هغې ماته د پولونه  پټې  پټې اشارې کولې.
های خدایه څومره لوی زیان مې کړی دی، څومره مینه ناکه  وه، زه خو وایم چې د مینې ټولې رشتې به تر هغې محد ودې  وي، کیدای شي همداسې هم وي خو څه پرې زه

خوترې محروم شوم کنه ،نه ریښتیا ماخو ځان ترې محروم کړ کنه ،څومره پېښتنه وه څومره د پښتو رواجونه یې د ماتولونه وساتل زما نه خو ښه وه کنه د ژوند په اصلي مانا خو رانه وړاندې پوهېدلې وه کنه که څه هم چې په خله یې راته ونه ویل چې اې تاته وایم زه تاسره مینه کوم خوپه ستر ګوکي خو یې راته ډیر ستونه  وکړل، هغه څومره معصومه وه چې زما په څیر د جاهل انسان یې د مینې هیله درلوده. هغه وخت به څنګه رانه هېرشي چې د واښو پنډ یې کړی ؤ او د هغې سرته د پورته کولودپاره یې ماته غږ وکړ ، کاشکې چې هم هلته پوی شوی وای چې دا یې هم د مینې یو ستت دی کنې هغه پنډ خو هغې خپله هم پورته کولای شو دومره خوهم نه وه ناتوانه، زه څومره ساده وم چې په هغې نه پوهیدم ،یوه یوه ادا یې چې راپه زړه  شي  لمبه لمبه مې کړي، خدای ښه پوهیږي داهم کیدای شي چې د هغې د سوزیدلې زړه ازار وي چې دا نن داسې خوار وزار  ګرځم غمونه مې نصیب دي ،دردونه مې نصیب دي.
اې زمانه ورکې مینې ،اې زمانه ګیلامنې مینې ،اې زمانه ګرځیدلې مینې ماډیر  وبخښه منم  چې زه د بخښلو لایق نه یم خو کاش  چې ډیر وروسته پوی شوم ، اې زما مینې که چرته یې که دا د زړه  چغې مې اورې یو ځل د خدای دپاره صرف یوځل راته قربان ووایه  زه ډیر پیښمان یم

ډیر کړیږم ستاپوه یوه خبره مې په لمبوسوزوې یو یو ناززدې ما ښیبه ښیبه وژني. یوځل راسره پخولاشه زه به دومره مینه درکړم چې دنیابه درته حیرانه کړم، زړه مې په یوه ولې ولاړ دی چرته یې اوچرته نه یې؟ زه ډیر بد بخت یم ډیر ګنهګار یم دومره چې حد نه لري، زما ژوند خو هلته یې مانا ژوند ؤ ځکه چې په مینه نه پوهیدم، هله وپوهیدم چې د ژوند د لویو نه لویه هستي ستا مینه مې له لاسه ورکړه.

هو رېښتیا هله وپوهیدم چې د ژوند د لویو نه لویه هستي د هغې مینه مې له لاسه ورکړه اوس څه کیږي؟ هیڅ نه اوس وخت تیرشوی دی، خدای زده چې اوس به څنګه وي خوشاله به وي اوکه......مابه یاد وي اوکه.......ولې به مې نه یاد وي ما ورسره ښه ډیرکړي دي کنه؟ زه خو د یوې داسې سزا لایق یم چې په د نیاکې تر ټولو نوې اوتر ټولو لویه اوسخته سزا وي. هغې چې راته په تت غږ وویل چې زموږ کډه ځي.

خدای زده چې زه څومره نادان وم؟ خدایه څه حد به یې هم ؤه او که نه؟ ولې مې زړه نه چاودیدو ولې مې زړه درد نه کاوه زړه مې د تیږې ؤ او که.......؟ نه د تیږې خوهم نه ؤ خوشاید چې همدا یو دلیل یې وي چې زه جاهل وم، نادان وم او بې حسه وم ځکه خومې په موسکا ورته وویل (ښه کوم ځای ته)؟

هغې راته ځای وښود او زما په موسکا روانه شوه ، خو ولې ورته موسکې شوم؟ ولې مې د هغې ډکو ډکو سترګوته پام نه شو او ولې هغې ډکې سترګې واپس ډکې یوړې؟ شاید ځکه چې مايې اوښکوته د زړه کچکول ونه نیؤو.

هلته هم نه پوهيدم چې د ماښام په تياره کې مې ورسره موټر د سامان ځڅه ډکاوه، هغه هم په دې نه چې ګڼې......بلکه په دې چې د هغوی سره زموږ راشه درشه وه. تاسو ووايې زه څومره ساده وم چې د هغې په دې خبره هم پوی نه شوم چې راته يې وويل .

موږ،خو سبا ځُو ته څغه نه يې؟

هغې ريښتيا ويل بايد زه څغه شوی وای،هغه خو هغه خو څغه وه. هله مې پام شو چې د هغې د زړه نه خو هغه وخت وينې څڅېدې کله چې مې پڅپل زړه راغله . ما ورته وويل ،ولې؟ زه ولې څغه شم؟ کډه ستاسو ځي اوڅغه زه شم خو هو ريښتيا څغه يم حاجي صيب ډيرښه سړی ؤ . د هغې پلارمې ورياد کړ، مخ يې واړاوه او غلې غونډې يې ووې

ښه؟

هم هغه ( ښه) چې يې راپه زړه شي نوداسې راته ښکاري لکه چې هغې ماته اختار راکړی وي چې ځه اوس خو زما د زړه پروا نه کوې خو چې پڅپل زړه دې راشي پيابه درته پته ولګيږي چې اوس دې په زړه څه تيريږي؟ هم هغه اختار يې پوره شو زما په زړه زما په زړه چې اوس څه تيريږي خدای دې مسلمان څه چې کافر هم ترې وساتي. هو ريښتيا ،دې نه وړاندې يې راته وويل چې تياره دی ته سامان مه وړه وبه غورځي. ماته څه پته وه چې د هغې راپاندې د ګلو لَو هم نه پيرزو کيدو .

ما ويل نه دا څه خبره ده ،نشته دومره تياره. ما ريښتيا ورته ويلي وو هلته دومره تياره نه وه ځکه چې زه نه پوهيدم اصلي تياره خو مې اوس په ژوند کې راغلې ده د کله نه چې په مينه پوهيدلی يم . های زما نادان زړګيه اوس به هغه د

کومو تورو غرونو شاته ژوند تیروي ؛ ژوندی به وي او که.........خوشاله به وي او که........ های مابه یادوي او که.........اې زما نه ورکې مینې زه ډیره ډیره بخښنه درنه غوارم ته ماډیره وخوروله هلته زه نه پوهیدم خواوس چې وپوهیدم نو زما دې ستا په خاموشه مینه قسم وي چې دومره خوریږم چې هیڅ حد نه لري یوه یوه شیبه دې چې راپه زړه شي نو باور وکړه چې اور اخلم لمبه کیږم اوچې د کډې د تلو وخت دې راپه یاد شي نو بې اختیاره مې دا لنډۍ له خلې نه ووزي.

که زه خبر وای چې پیلتون دی

مابه دې مړو سترګو ته ډیر کتلي وونه.

يوسل پنځوس

د لېږمزل نه وروسته د موټرو په پېروپار کې ښکېل شوو، شايد چې هغه ته هم د پيرو پار په ليدو خبره ورياده شوې وي يا به يې په زړه کې وه خو همدا به يې ورته مناسب ځای ګڼلو او يا..........، مخ يې رواړاولو او راته يې وويل: يار په دې ټريفيک ( پېروپار) پسې راته يوه خبره رايادة شوه ، چې اوس هم دغه وګورم ( ترافيک ته يې اشاره وکړه) نو بد مې ترې راځي.

حيران شوم ، ترې ومې پوښتل،

ولې خيرشه، هغه څنګه؟

پسې ژړياته يې کړه

څو ورځې وړاندې مې دوې سوارلی ليډي ريډينګ هسپتال ( شفاخانه) ته وړلې، نو په لاره کې همداسې په پېروپارکې ګيرشوم ، سوارلی راسره يو سړی او يوه ژنانه وه ، د هغې ژنانه اپريشن ( عمليات) شوی ؤ همداسې ګرمي وه ، بيا ورپسې زخمونه خراب شوي وو ، ځکه يې بې اختياره چغې وهلې ، داسې چغې چې خدای شته زما د زړه نه پورې راپورې وتې ، لاره همداسې بنده وه د خلاصيدو يې هيڅ امکان نه ؤ، نو زړه مې صبر ونکړ او په پردې لاس ور روان شوم، ولې چې د ژنانه سره سړی هم د هغې دپاره ډير وارخطا شوی ؤ ، د انسانيت دپاره مې د

ترافیک څڅه سرغړونه وکړه ،ما و یل ځه چې څه کیږي ییا به ورسره ګورو، په وروره څه ګورم، چې ترافیک راخلاص دی ( راخوشې دی) چې مې ورپام شو لاسونه یې خوځول،

بریک مې ونیؤ، ترافیک ماما د رارسېدو سره سم راته وویل:
چرته ځې، داسې ولې په غلط لاس راغلې...............؟ خو بس یار پوښتنې یې شروع کړې، ما ورته شاته سیټ کې پرتې ژنانه ته اشاره وکړه ، چې ګنې دا مریض راسره دی ، ژنانه همداسې د دردونو په جال کې راګیره وه، که ما ډیر ورته هغه دغه وکړل خو هغه ته د انسانیت نه دولتې قانون لوړ او مقدس ښکاریدو ، ما ییا ډیر بحث ورسره ونکړ ،ولې چې هغه نه هغې ژنانه ته توجه ورکوله او نه یې د هغه سړي زاریو ته څه ارزښت ورکولو، بس ورته مې وویل چې ما دومره پر یږده چې زه دا مریض ورسوم ییا به درته راشم، کاغذونه مې ورته راوویستل ما ویل ، هن دا واخله زما د موټر کاغذونه ، خو ولې چې هغه دا ونه منل ، یا به یې په ما باور نه راتلو چې زه به ییا راشم او یا به یې پخپل ځان باور نه ؤ چې کاغذونه دې سمبال راته وساتې او یا به څه نور څه وجه وه کنې نو ولې؟ هغه هم انسان ؤ ، باسیواده ؤ، ځکه چې پرچه یې په خپله راته ولیکله ، که موږ به هر څه ورته وویل ، هر څومره زاری به مو چې ورته وکړې خو ده به یوازې همدا یوه خبره کوله چې تا قانون مات کړی دی، اخیر دا چې پرچه یې راته کټ ( پرې ) کړ ه ، رایې کړه او راته یې وویل چې دا جرمانه به په بینک کې جمع کړې ،دی د نورو موټرو خواته ور روان شو موږ د لږ نور انتظار نه وروسته روان شوو، سړی دومره وارخطا ؤ لکه چې دردونه په ده وي نه په هغه ژنانه،هغه د هسپتال پورې داسې په تکلیف ورسیده چې ما ویل سم زړه یې د ډیر درده چاود شو، هغه مې هسپتال ته

ورسول هلته راته سړي د خپلې کراېې نه يو څه روپۍ زياتې راکولې او د احسان منته يې راته وکړه څو ما ورته وويل چې که دا پيسې درنه واخلم نو بيا په ما او په هغه ټرېفيک ( ترافيک ) والا کې فرق د څه شو؟ او احسان خو مې درباندې څه نه دی کړی ولې چې دا زما فرض وو، ددې ويلو سره مې موټر راتاؤ کړ نيغ لاړم بينک ته ، هلته مې د جرمانو په اکاونټ کې يو سل پنځوس روپۍ جرمانه جمع کړه.

پای